GAHEEZ

گهیځ مهالنی

ارگان نشراتی انجمن نویسندگان وژورنالستان گهیځ

لومړی کال، دوهمه گڼه، ۱۳۹۷ لمریز د حوت ۲۹ مه

د لیکوالی لپاره ځینې ټکي!

قلم، برای زندگی، شکوه میبخشد و جاودانگی!

الفت او اقبال؛ د یوه فکر دوه انځوروونه!

گزارشگری تحقیقی و چگونگی آن در رسانه های افغانستان!

نقش رسانه ها در توسعهٔ اقتصادی!



یکی از ابزارهایی که در جوامع امروزی رشد و گسترش یافته است رسانه های گوناگون با رویکردهای مختلف است. یک رسانه برای آغاز فعالیت راهی دشوار را باید بپیماید. شناخت مخاطب و اهدافی که در نظر دارد باید کاملاً شفاف و روشن و مشخص گردد. (استراتیژی خود را قبلاً مشخص نماید و در حول محور این استراتیژی به تعریف کارکردهای خود بپردازد) سپس آغاز به فعالیت نماید، پس از آغاز نیز باید سختی ها و مشکلات فراوانی را تجربه نماید.

یک رسانه زمانی موفق تر از بقیه رسانه های همطراز خود خواهد بود که بتواند قبل از سایر رسانه ها و مخاطبین بحران های پیش روی حیطه های مد نظر خود را تشخیص، تحلیل، پیش بینی و برای برخورد با آنان و تغییر جریان آن، به ارائه راهکار ها و طرحهای جدید بپردازد.

سرمقاله

راه مان ادامه دارد!

الله متعال را سپاس گزاریم که ما را توفیق داد تا بار دیگری با نشر شماره ی از گاهنامۀ «گهیځ» در خدمت دوستداران عزیز و اهل رسانه ها قرار داشته باشیم.

دانشمندان علم ارتباطات به این باور اند که اگر همه داشته های علم ارتباطات در عصر امروزی را به تلاش برای پاسخ دهی به تنها یک پرسش خلاصه کنیم، بدون شک این یک پرسش «میزان تأثیر رسانه‌ها» خواهد بود؛ به این معنا که رسانه‌ها تا چه حد بر انسان ها و جامعه تأثیر دارند و همین تأثیر گذاری رسانه ها بر انسان ها و در مجموع بر جامعه است که ما را واداشته تا به تلاش مان جهت رشد و نموی کار های رسانه یی بپردازیم و سعی ورزیم از این «منبر» صدای مان را به گوش جامعه برسانیم و پیام مان را که همانا پیام رستگاری و فلاح است به فرد فرد این جامعه ابلاغ کنیم.

از سوی دیگر رسانه ها بدون شک پیام آور تحول و آزادی در جوامع هستند و پیام رسانه ها همیشه پیام آزادی برای مردمان جامعه بوده است و نمی توان از نقش و نیروی رسانه در آزادی ملت ها از یوغ استعمار فزیکی و فکری چشم پوشید.

انجمن نویسندگان و ژورنالستان گهیځ شکر پروردگار عالمیان را بجا می آورد که توانسته با گرد آوری جمعی از ژورنالستان و نویسندگان فرهیخته، نه تنها برای رسانیدن پیام خیر و فلاح به اهل این جامعه و این میهن کوشا باشد، بلکه قبل از آن برای فهماندن درست و اساسی قشر هم مسلک خود و اهل رسانه تلاش به خرج دهد.

این انجمن طی سال خورشیدی ایکه عقب گذاشتیم با توجه به اصول و اساسات کار رسانه یی، در کنار ده ها فعالیت مثمر و ارزنده ژورنالستیکی، نخستین شماره گاهنامه گهیځ را نیز به خوانندگان عزیز و دوستداران رسانه ها تقدیم کرد که حاوی مطالب گونه گون به شمول شناخت و معرفی خود این انجمن و شخصیتی که اسم انجمن از آن گرفته شده است (شهید منهاج الدین گهیځ) بود و الحمدلله مورد استقبال گرم دوستداران رسانه ها و نویسندگان گران ارج قرار گرفت.

این است، در دومین شماره از این گاهنامه، بیشتر به نشر مطالب آموزشی و تخصصی در عرصۀ ژورنالیزم و نویسندگی می پردازیم و امید داریم مطالب گرد آورده در این شماره گاهنامه نیز مورد استقبال و استفادۀ اهل علم قرار گیرد.

ادارۀ گاهنامۀ گهیځ و در مجموع ادارۀ انجمن گهیځ به حیث یک تجمع آزاد و با رسالت جوانان ژورنالست و نویسندگان نخبه، خود را متعهد به ارزش ها و اصول علم ژورنالیزم و ارتباطات دانسته و سعی خواهد ورزید تا با تدویر برنامه های آموزشی مختلف در این عرصه و نشر و پخش مطالب علمی، تخصصی و آموزشی در باب ژورنالیزم، ارتباطات و نویسندگی، همچو همیشه در خدمت دوستداران این هنر قرار داشته باشد.

آرزو مندیم بتوانیم از این طریق از یک سو جوانان مشتاق به فرا گیری علوم ژورنالیزم، ارتباطات و نویسندگی به گونۀ تخصصی آن را خدمت کنیم و نیازمندی های آموزشی و علمی آنان را مرفوع بسازیم و از سوی دیگر هم با همکاری و همیاری استادان و متخصصان این عرصه، به نشر و پخش ابتکارات جدید و متنوع در این راستا دست یازیم و با هماهنگی هم به پیش رویم، چون یقین داریم که « راه مان ادامه دارد!»

گهیځ

ارگان نشراتی

انجمن نویسندگان و ژورنالستان گهیځ

د امتیاز څښتن

گهیځ د لیکوالو او ژورنالیستانو ټولنه

تحت نظر هیأت تحریر

ویب سایت: www.gaheez.af

شماره تماس: ۰۷۴۷۹۹۹۳۸۶

آدرس ایمیل:
anjuman.gaheez@gmail.com

د ليکوالۍ لپاره ځينې ټکي!

څېړندوی رحيم الله حريفال، د ګهيځ ټولنې مرستيال

لنډيز:
د ليکوالۍ اړوند موضوعاتو په اړه ډېر څه ليکل شوي، خو په پښتو ژبه کې په ياده برخه کې لا ډېرو ليکلو او بحثونو ته اړتيا ليدل کېږي او دا ځکه چې پښتانه او د پښتو ژبې ويونکي له کلونو ـــ کلونو را په دې جنګ جګړو له زده کړو او تعليم څخه لرې ساتلي وو، خو که څه هم له يوې خوا جګړو ټول افغانان متأثره کړل، خو هجرت او کډوالي بيا څه نا څه ګټې هم ورسولې. د هجرت په ديار کې نوي نسل زده کړې وکړې، پوهنتونونه يې ولوستل او بيا په ځانګړې توګه په وروستيو اتلسو کلونو کې په ټولو ولايتونو کې ښوونې او د ښوونځيو جوړولو ته جدي توجه وشوه، په ډېرو ولايتونو کې پوهنتونونه جوړ شول او په دغو تعليمي مرکزونو کې د لومړي ځل لپاره په مورنۍ ژبه زده کړو ته پام وشو، نو کله چې په يوه ټولنه او هېواد کې د زده کړو او په ځانګړې توګه د لوړو زده کړو کچه لوړه شي، هلته بيا ليکوالي هم د معيار لور ته حرکت کوي، خو بيا هم د ليکوالۍ او ادبياتو د برخو پوهانو او استاذانو ته په کار دي چې په دې برخه کې د تاندو او ځوانو استعدادونو د غوړېدا لپاره ډېر څه وکړي، د هغوی د روزلو لپاره کتابونو او بېلابېلې ليکنې وکړي. په ځانګړې توګه په ښوونځيو او پوهنتونونو کې د مورنۍ ژبې د زده کړې او پراختيا لپاره کار وکړي، ځکه يو انسان هغه وخت ښه ليکوال کېدلای شي چې په خپله مورنۍ ژبه بشپړه برلاسي ولري او يا هم ويلای شو چې په هره ژبه کې چې غواړي ليکوالي وکړي بايد په نوموړې ژبه پوره حاکم وي، ځکه که د ليکوالۍ په نورو ټولو رمزونو پوه هم شي، خو چې په ژبه کې مهارت ونه لري، ليکوال کېدل يې ناشوني دي. بله خبره دا چې که چېرې د چاپېريال، کور، ښوونځي او پوهنتون ژبه يوه شي، هلته بيا د ليکوالۍ او نويو ليکوالانو د را پيدا کېدو لپاره ښه زمينه برابرېږي.

مقدمه:
ليکوالي که له يوې خوا فطري ده، خو اکتسابي هم ده او استعدادونه هغه وخت غوړېږي چې وروزل شي او سترياوې وزغمي. په نورو پر مختللو هېوادونو کې که وګورو هلته د ليکوالانو ټولنې ببل او ځانګړي اشخاص دي، خو په وروسته پاتې ټولنو او هېوادونو کې بيا دا معيار بل ډول دی او بايد هم بل ډول وي، ځکه يو هېواد چې کله پرمختګ کوي، نو هر څه په لومړيو کې خام او پيکه وي، خو وروسته قرار ـــ قرار د معيار لور ته حرکت کوي. د نويو او مبتدي ليکوالانو پر مخ بايد د ليکوالۍ دروازې ونه تړل شي، بلکې و هڅول يې په کار دي چې د پخې او معياري ليکوالۍ لور ته ولاړ شي او په راتلونکې کې ګڼ شمېر مبتکر او پاخه ليکوالان ولرو، خو ځوک چې غواړي د ليکوالۍ پر باريکه لار سفر ته دوام ورکړي، نو د ځينو مهمو او بنسټېزو ټکو په پام کې نيول ورته اړين دي. د دغه ټکو شمېر زيات دی، خو ځينې بيا دومره مهم دي، چې هغو ته نه پام کول، د ليکوال کېدو مخنيوی کوي، چې په دې ليکنه کې به په دغو ابتکاري ټکو رڼا واچوو او خبرې به پرې وکړو.

• له ژبې سره بلدتيا:
موږ ته د خپلې مورنۍ ژبې زده کړه او له هغې سره بلدتيا عادي او بديهي خبره په نظر راځي او داسې فکر کوو، چې دا خو مو مورنۍ ژبه ده، نو د دې په زده کړه کې به کومه ستونزه ونه لرو، خو که چېرې غواړو چې ښه او مسلکي ليکوالان شو، د هغې ژبې زده کول ډېر اړين او مهم دي، په کومه ژبه چې موږ ليکوالي کوو، خو متأسفانه زموږ په هېواد کې تر ټولو ستره ستونزه د ژبې نه زده کړه ده، نو که چېرې مو ژبه نه وي زده او يا يې هم له ځينو باريکو او پېچلتياوو څخه نا خبره يوو، بيا مو نو د ليکوال کېدو هيله او ارمان يو خوب دی. د يادې ستونزې اصلي لامل هم متأسفانه د هېواد په تعليمي او ښووونيز نظام کې دی، ځکه د ژبې اروپوهنه وايي، چې د ژبې زده کړه، خپل ځانګړی وخت لري او دا پړاو د ماشوم د عمر تر دولس کلنۍ يا هم څوارلس کلنۍ پورې دوام کوي او همدا مرحله د ژبې د زده کړې بهترينه او غوره مرحله ده او کله خو بيا داسې هم شوي دي چې يو څوک تر لوړو زده کړو پورې تحصيلات په بله ژبه کوي، نو خپله ژبه ترېنه پاتې وي، په داسې حال کې نو بيا په خپله مورنۍ ژبه ليکوالي کول ناشونی او ستونزمن کار ښکاري. د نورو ژبو د زده کړې تر څنګ بايد د خپلې ژبې زده کولو ته ډېر وخت ورکړو.

• مطالعه وکړئ!
ليکوال کېدل تر نورو ټولو برخو زياتې مطالعې ته اړتيا لري، ځکه کله که په ذهن کې موږ څه ونه لرو، نو لوستونکو ته به څه وړاندې کړو. مخکې موږ د ژبې د زده کړې او له ژبې سره د بشپړې بلدتيا خبره وکړه، کله که موږ ژبه ښه هم زده کړو، خو په الفاظو يا هم دغو ظرفونو کې د وړاندې کولو لپاره څه ونه لرو، نو بيا هم ليکوال نه شو کېدای. څوک چې غواړي ليکوال شي. د هغوی د عمومي معلوماتو کچه بايد لوړه وي، کېدای شي موږ په يوه ځانګړې موضوع

د کار پر مهال تخصصي مطالعه وکړو، خو د دغې ځانګړې مطالعې تر څنګ مو باید د عمومي مطالعې او معلوماتو فیصدي ډېره لوړه وي. بل دا چې د مطالعې په وخت کې دقیق پام وکړو، درک یې کړو، تحلیل یې کړو او بیا یې ذهن ته وسپارو چې وروسته به له موږ سره په لیکلو کې ډېره مرسته وکړي. د ژبې زده کړه او مطالعه په لیکوالۍ کې مهم او بنسټیز رول لري، که له دغو برخو څخه یوه برخه کمزورې وي، نو د لیکوالي هیلې به هم نیمګړې پاتې وي. استیون کینګ د لیکوالۍ په برخه کې ښکلې توصیې لري، یو ځای وایي: «مطالعه د هر لیکوال د خلاقیت هسته او مرکز دی.»

• په لیکلو کې افراط وکړئ!

که غواړئ چې ښه لیکوال شئ، نو په لیکلو کې افراط وکړئ، په لیکلو کې کې افراط ورځ تر بلې زموږ شهامت د هغو شیانو په لیکلو کې زیاتوي، چې له لیکلو سره یې مینه لرو. په لیکلو کې افراط یعنې، چې هم په سفر کې کتاب او قلم در سره وي، هم په لوږه او هم په ماړه نس لیکنه پرې نه ږدې، کله چې په قلم او کاغذ له لیکلو ستړي شوئ، نو کمپیوټر ته مخه کړئ او کله چې له کمپیوټر نه ستړي شوئ، پنسل او کاغذ ته ور وګرځئ. تل د هغو جملو په لیکلو لاس پورې کړئ، چې تاسو هر لحظه په خپل ذهن کې پسې ستړي او لالهانده یاست. د ورځې لیکلي یادښتونه مو له شپې ترتیب او منظم کړئ. که مو ذهن ته ځانګړې څه نه درځي، دا تشویش مه کوئ چې دا خو ډېر مهم نه دي، بلکې هماغه عادي شیان د کاغذ پر مخ پلې کړئ او وېې لیکئ. باید په افراطي توګه لیکنه وکړئ، تر څو پر ذهن مو ناسته وېره له منځه ولاړه شي او بیا قرار ــ قرار د علمي مقالو او مضمونونو په لیکلو لاس پورې کړئ او تر هغه پورې دغه کار ته دوام ورکړئ، تر څو د نه لیکلو ټولې بهانې له منځه ولاړې شي. دا چې غواړئ لیکوال شئ، نو له دې غوره شوي مسلک سره مو لېونۍ مینه وساتئ او لکه له خپلې مینې سره چې د ډېر وخت پاتې کېدو هیله لرئ، همداسې له لیکلو سره هم زیات وخت و اوسېږئ او هېڅکله هم باید ورسره ستړي او ستومانه نه شئ. د هغه کار لپاره چې تاسو ورسره له زړه مینه لرئ، نو فرصت موندلو ته شېبې مه شمېرئ، بلکې هر وخت فرصت او غنیمت وګڼئ او لیکل وکړئ.

• کیسه ولیکئ!

که له کیسې او داستان لیکلو سره مینه هم نه لرو او علاقه مو دا وي، چې علمي مقالې او یا هم پروپوزلونه ولیکو، بیا هم باید هڅه وکړو چې داستان ولیکو او د کیسې لیکلو او ویلو مهارت زده کړو. ایرانی لیکوال صادق هدایت وایي: «کیسه ناکامو هیلو ته د رسېدو، یوه د تېښتې لار ده.»

بل دا چې له کیسې او داستان سره ټول انسانان ځانګړې مینه او علاقه لري، نو په کار ده چې غواړو لیکوالان شو، باید زیاتره وخت د لیکوالۍ په کار کې کیسه تر لاس لاندې ولرو او کله چې موږ پر داستان کار کوو، د خپلې کیسې د جذابیت او جالبیت لپاره هڅه کوو، چې په خپل چاپېریال کې موجوده شیانو ته ژور پام او توجه وکړو. دا هم اړینه نه ده چې موږ سناریوګانې او یا هم د فلمونو داستانونه ولیکو، بلکې د خپل ورځنۍ ژوند واقعات او څه چې زموږ او ستاسو پر وړاندې تېرېږي، هغه را واخلو او د خپل داستان موضوع یې وګرځو. د کیسې په لیکلو کې شاید خپلو نیمګړو هیلو ته هم ورسېږو، داسې ځایونو ته سفر وکړو، چې په واقعي ژوند کې هلته د تلو چانس ونه لرو، له داسې چا سره خبرې وکړو او د خپل زړه درد ورسره شریک کړو چې له هغوی سره یوه شېبه پاتې کېدل راته د ژوند هومره ارزښت لري.

ماریو بارګاس یوسا وایي: «داستان د ګناهګاره روحونو پناه ځای دی.»

• بې تکلفه لیکل وکړئ!

ځینې انسانان خپل ټول ژوند په تکلف او مصنوعي بڼه تېروي، د هغوی د ورځنۍ ژوند حرکتونه هم د نورو انسانانو لپاره ستړې کوونکي وي، نو په ورځنۍ ژوند کې به لا له مجبوریت نه ورسره ګذاره کوې او یا به هم ځان ترې لرې څنګ ته کوې، خو کله چې لیکنه تکلفي او له طبیعي مسیر څخه لرې وي، لومړی خو دا چې تکلفي لیکنه وړاندې نه ځي او دا حتمي ده، چې په نیمایي کې به پاتې کېږي او که چېرې وهم لیکل شي، نو بې روحه کالبوت ته به ورته وي، چې هېڅوک به هم علاقه او دلچسپي ورسره ونه لري او نه څوک په داسې ستړي کوونکو شیانو او جملو خپل وخت تېروي.

د بې تکلفه لیکنې لپاره یوه ښه لار په تړلو او پټو سترګو لیکل دي. یعنې کله نا کله غوره دا ده چې خپلې سترګې پټې کړو او لیکل وکړو. کله چې په پټو سترګو لیکل کوو، زیات د خپلواکۍ او آزادۍ احساس کوو، حس کوو چې داخلي نقاد مو سکوت او چوپتیا غوره کړې ده. په تړلو سترګو لیکل لکه مراقبه داسې ده، په دې وخت کې مو ټول تمرکز په هغه څه چې لیکئ یې را ټولېږي. په پټو سترګو، ټولې پرېشانۍ او د حواسو تشتت مو لرې کېږي او یا هم کله د سترګو پټولو پر ځای مو د خونې څراغ خاموش کړئ او په کمپیوټر لیکل وکړئ. په تیاره کې د لیکلو تجربه ډېره عجیبه او غریبه ده. د کلمو د یو ځایوالي په اړه هم باید تشویش ونه کړئ، کله چې سترګې پرانیزئ، خپلې لیکنې ته به حیران شئ او په لیکنه کې مو د فکر نیلۍ آزاد پرېږدئ.

• وخت سپما کړئ!

ټول انسانان د وخت له کمښت او کارونو له ډېرښت څخه شکایت او ګیله کوي او که تاسو هم دا احساس کوئ چې د لیکلو لپاره کافي وخت نه لرئ، نو لیکوال باید تل په دې هڅه کې وي، چې له وخت نه غلا وکړي او تاسو هم باید خپل تصور ته بدلون ورکړئ، د وخت مدیریت په لیکوال د شپې له خوړو نه هم ډېر واجب دی.

مشهور رومان لیکوونکي آنتوني ترالاپ به، په هرو پنځلسو دقیقو کې درې سوه کلمې لیکلې او هغه په همدې معیار او کچې دقیقاً په ورځ کې درې ساعته لیکل کول او هغه هم مخکې له خپلې اصلي دندې او اداري ته تر تګ وړاندې، نوموړی یاد روش د تاریخ په یوه ډېر کارکوونکي لیکوال بدل کړ.

قلم، برای زندگی، شکوه می‌بخشد و جاودانگی!

عزیز احمد حنیف عضو انجمن گهیځ

نویسندگی یک فنی است که از یک طرف به توانایی های درونی و از جانب دیگر به ذوق و سلیقه و در عین زمان، به شیفتگی و دلبستگی نویسنده بر ارائه یک موضوع، بر می‌گردد.
کاربرد واژه‌های زیبا، روانی در ترکیب جملات، شیوایی و رسایی در بیان مطلب، استفاده از فنون ادبی و تصویر پردازی یک رویداد برای مخاطب، نویسنده را کمک می‌کند تا سخن‌اش تأثیرگذارتر بر خواننده باشد.
جملاتی که یک پاراگراف را شکل می‌دهند برای اهل قلم، همچون دانه‌های مروارید اند که در رشته‌ای مخصوص کنار هم قرار می‌گیرند؛ هر قدر که دانه‌های مروارید، زیباتر در کنار هم قرار داده شود به‌همان اندازه در برابر چشم صرافان گوهرشناس در بازار دانش و هنر، ارزش و بهایش بالاتر می‌رود.
قلم، به‌سان زبان، یک رسانه است؛ اما متفاوت از هر رسانه‌ی دیگر! زمانی‌که می‌خواهیم یک مطلب را از طریق زبان برای مخاطب بازگو کنیم، فرصت کمتر داریم تا روی کاربرد واژه‌ها و جمله‌ها غور و دقت کنیم اما وقتی می‌خواهیم مطلبی را از طریق قلم برای خواننده پیشکش کنیم، به راحتی می‌توانیم در کاربرد واژه‌ها و جملات دقت کنیم و سخن خود را با زیبایی‌های ادبی آراسته بسازیم.
زبان و قلم دو رسانه‌ای است که خداوند متعال آن ها را برای انسان‌ها داده است تا از این طریق در روابط و تعاملات زندگی اجتماعی میان هم بهره ببرند؛ از همین‌جاست که انسان از منظر دین مقدس اسلام، در برابر هر آنچه که می‌گوید و یا می‌نویسد به پیشگاه الله متعال مسؤول و پاسخگو است.
خداوند –جل جلاله- در قرآن کریم سوره ای را به نام قلم نام گذاشته است و در آغاز آن «به‌قلم و آنچه که ملایکه‌ها (از اعمال نیک و زشت بنی آدم) می‌نویسند سوگند یاد کرده است». همانگونه در آیات آغازین سورهٔ علق که برای اولین بار از آن‌سوی آسمان ها به پیامبر اکرم صلی‌الله علیه وسلم فرود آمد از واژه‌های «إقرأ»، «علم» و «قلم» نام برده شده و این واژه‌ها به جهان آفرینش و به‌ویژه خلقت انسان پیوند داده شده است.
عبدالرحمن جامی در بیت معروفی، معنای حدیث پیامبر گرامی اسلام صلی‌الله علیه وسلم را که اولین ماده آفرینش قلم را معرفی فرموده، به تصویر کشیده است:

اولین زاده قدرت قلم است
که ز نوکش دو جهان یک رقم است

اهمیت قلم در این است که تمام تعاملات سیاسی، اقتصادی، فرهنگی و خلاقیت‌های علمی، هنری و تمدنی، با قلم گره خورده است. امروزه دیده می‌شود که قراردادهای شخصی، معاهدات بین المللی، قوانین کشورها، راهبردهای استراتیژیک در مؤسسات از سطوح پایین تا بالا همه از طریق قلم انجام می‌شود.
تراوش های ذهنی از طریق قلم است که انسان‌ها را از طریق پیام‌ها و نوشته های سازنده‌ی شان ماندگار می‌سازد؛ وقتی به شخصیت‌های بزرگ تاریخ نگاه می‌کنیم دو طایفه پیش روی چشم ما متجلی می‌شود: یکی پادشاهان و کشورگشایان نامدار که با لشکر کشی‌های بزرگ، شهرها و اقلیم‌ها را فتح کردند و دوم دانشمندان، شعرا و نویسندگانی که با آثار علمی شان در قلب ملت ها برای خود جا باز کرده اند.
سید سلیمان ندوی در سفر تاریخی‌ای که در سال ۱۹۳۳میلادی همراه با علامه اقبال به شهر کابل داشت، ضمن سخنرانی‌ای که در مراسم یک ضیافت از سوی انجمن ادبی کابل داشت، به حفظ و تقویت پیوندهای تاریخی افغانستان و هند از راه پیوندهای فرهنگی تأکید ورزید. او گفت: سال هاست که صدای سُم اسپ‌های لشکریان سلطان محمود غزنوی و شهاب الدین غوری، خاموش گردیده است اما صدای آهنگ‌های غزلیات دل‌انگیز سنایی غزنوی و مولانا جلال الدین بلخی هنوز گوش‌ها را می‌نوازد و بر فضای این دو کشور پیچیده است.
علامه اقبال در سخنرانی تاریخی‌اش در انجمن ادبی کابل که شخصیت‌های فرهنگی‌ای بزرگی مانند: قاری عبدالله خان بختیانی، ملک الشعراء بیتاب، محمد ابراهیم خلیل، دستگیر خان مهمند، خلیل الله خلیلی، عبدالهادی داوی، عبدالحی حبیبی، قیام الدین خادم، سید قاسم رشتیا و غیره در آن حضور داشتند، روی رشد ادبی در افغانستان تأکید کرد و گفت: مسؤولیت شعرا و فرهنگیان افغانستان در ساختار ملت بزرگ این کشور، حفظ اتحاد و همبستگی، کمتر از مسؤولیت رجال دولتی نیست. او می‌گوید:

شاعر اندر سینه ملت چو دل
ملتِ بی شاعری انبار گِل

نقطه دیگری که در باب اهمیت و نقش قلم در زندگی انسان‌ها باید به آن اشاره شود، این است که هر تمدنی بر چند عنصر یا رکن اساسی استوار می‌باشد که از آن‌جمله، سیاست، اقتصاد، ادب، هنر، اخلاق، عقیده و فرهنگ اجتماعی است. نقش قلم در رشد و سمت و سو دهی عناصر فوق تأثیر مستقیم و سازنده خود را دارد. روابط فرهنگی از طریق آثار قلمی است که پیوند میان ملت‌ها و نسل‌ها را بر اساس ارزش‌های انسانی برقرار می‌سازد و آن را حفظ می‌کند.
زندگی انسان، با فرود و فرازی، یک روز به‌پایان می‌رسد؛ کسانی که با کتاب و قلم زندگی شان را به‌سر می‌رسانند، نسبت به کسانی‌که به کسب مادیات و ثروت و دولت تلاش می‌ورزد، زندگی زیباتر، آرامتر و جاودانه‌تر دارند. انسان‌هایی که می‌خواهند بعد از مرگ شان زنده باشند، با آثار قلمی خود می‌توانند در دل ملت‌ها و نسل‌های بعدی برای خود جا باز نمایند و نام نیکوی آن ها بر دفتر تاریخ، جاودانه شود. استاد خلیلی مرحوم می‌گوید:

مرد نمیرد به مرگ، مرگ از او نام جست
نام چو جاوید شد مردنش آسان کجاست

همانگونه که قلم در حیات فردی انسان تأثیر مستقیم دارد، در زندگی اجتماعی نیز نقش سازنده‌ی خود را می‌توانند ایفا کند.

حافظ سخن بگوی که بر صفحه جهان
این نقش ماند از قلمت یادگارِ عمر

رسنۍ د اخلاقي ځانګړنو او مسؤولیتونو په ډګر کې!

د ګهیځ ټولنې مشر سردار محمد دیندارخېل

په افغانستان کې د ټولیزو اړیکو د وسایلو قانون د څلورمې مادې په لومړۍ فقره کې راغلي دي چې (هر شخص د فکر او بیان د آزادۍ حق لري. د چارواکو له خوا له لاس وهنې، محدودیت او تهدید پرته د قانون د حکمونو په حدودو کې د معلوماتو، اطلاعاتو او نظریو غوښتنه، ترلاسه کول او لېږدول په دې حق کې شامل دي، همدارنګه په دې حق کې د معلوماتو د خپرولو، ویشلو او ترلاسه کولو د وسایلو آزاد فعالیت هم شاملېږي).

او همدا ډول د همدې قانون د دویمې مادې په شپږمه فقره کې صراحت شوی دی چې (د ټولیزو اړیکو د وسایلو له سالمې ودې سره د مرستې په منظور په داسې ډول چې دغه وده وکولای شي په هېواد کې د کره خبرونو، اطلاعاتو، زده کړو او روزنو د خپرولو او د علم او ثقافت د غوړېدو اغېزمن وسایل وګرځي او د خلکو نظریې له ژورنالیستکي معیارونو، اصولو او ارزښتونو (صداقت، ناپلوۍ او توازن) سره سمې منعکس کړي).



د قانون د دې مادو په پام کې نیولو سره ټولې رسنۍ، برېښنايي(راډیو، ټلویزیون، کېبلي شبکې او انټرنټ)، چاپي رسنۍ(ورځپاڼه، جریده، میاشتنۍ، مهالنۍ، فصل نامه، کلنۍ، پوستر او خبرنامه)، باید د ټولیزو اطلاعاتو د قانون په نظر کې نیولو سره خپلې خپرونې عیارې کړي او هغه اخلاقي ژمنتیا هم په نظر کې ونیسي چې د هغې په رعایت سره ټولو ته خیر رسېږي، ځکه د اسلام مبارک دین د خیر دین دی او خپل پیروان د خیر خپرولو ته تشویقوي.

زمونږ په هېواد کې هم چې ۹۹٪ سلنه خلک یې مسلمانان دي، باید د هېواد ټولې رسنۍ د اسلام مبارک دین د احکامو په نظر کې نیولو سره خپلې خپرونې چمتو کړي او طبیعي ده چې رسنۍ د ټولنې په جوړونه کې خورا اغېزمن رول لري، نو ځکه رسنۍ مسؤولیت لري تر څو هڅه وکړي هغه څه خپاره نه کړي چې د ټولنې لپاره ګټور نه وي او ټولنې ته زیان رسوي، او په دې اړه هېڅ کله له غفلت څخه کار وانخلي، ځکه په رسنیز ډګر کې یوه شېبه غفلت د ټولنې د ویجاړېدو سبب ګرځي. خو هغه کومې اخلاقي ځانګړنې او کوم مسؤولیتونه دي چې باید رسنۍ یې د یوه داسې هېواد وګړو ته د خپرونو وړاندې کولو په ترڅ کې په پام کې ونیسي، چې تر ۹۹ سلنه زیات وګړي یې مسلمانان دي:

۱. سموالی: د یوې رسنۍ مهمه ځانګړنه داده چې د خبر په رسونه کې باید دقت وکړي او خلکو ته سم خبرونه ورسوي د ننني

ورځې د ژورنالیزم له اصولو سره برابر او کره خبر خپور کړي، له بې بنسټه خبر څخه ډډه وکړي یعنې سرچینه یې باید معتبره او مؤثقه وي. الله تعالی فرمایي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ (الحجرات سورت، شپږم نمبر آیت) ژباړه: (ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی! که تاسو ته کوم فاسق (بدکار کس) خبر راوړي، نو تاسو ښه تحقیق وکړئ، په دې چې تاسو به یو قوم ته په ناخبرۍ سره تکلیف ورسوئ، بیا به تاسو په خپلو کړو باندې پښېمانه شئ)

۲. د عقلانیت او علمیت چوکاټ: رسنۍ مکلفې دي کوم پیغام یا خبر چې خپروي باید د عقلانیت او علمیت په چوکاټ برابروي. نو کوم پیغامونه او معلومات چې په ګومان ولاړ وي له خپرولو څخه دې ډډه وکړي.الله تعالی فرمایي: وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا (الإسراء سورت، ۳٦ نمبر آیت) ژباړه: (او ته د هغه شي پیروي مه کوه چې د هغې علم له تاسره نشته، بې شکه غوږونه، سترګې او زړه، د بدن هغه غړي دي چې له هر یوه نه په دې اړه مسؤول دي او په دې اړه به له هغوی نه پوښتنه کېږي.) او بل ځای فرمایي: وَمَا يَتَّبِعُ أَكْثَرُهُمْ إِلَّا ظَنًّا إِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِمَا يَفْعَلُونَ (یونس سورت، ۳٦ نمبر آیت) ژباړه: (او د دوی زیاتره د ګومان پیروي کوي، بېشکه ګومان د حق په مقابله کې هېڅ فایده نه لري، بې شکه الله ښه پوه دی په هغو کارونو چې دوی یې کوي) او همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ ، فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ "الْحَدِيثِ" ژباړه: (له شک او ګومان څخه ځان وساتئ، بدترین دروغ ګومان دی)

۳. د الله لورته بلنه: رسنۍ باید د حق لورته بلنه وکړي او د الله تعالی یووالي ته خلک راوبولي الله تعالی فرمایي: وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللَّهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ (فصلت سورت،۳۳ نمبر آیت) ژباړه: (او د خبرې په لحاظ له هغه چا نه څوک ډېر ښه دی چې الله ته بلنه کوي او نېک عمل کوي او وایي چې بې شکه زه له مسلمانانو څخه یم؟)

٤. د خیر او نېکۍ لور ته بلنه: خیر او نېکۍ ته بلنه په اسلامي هېوادونو کې د رسنۍ یوه بله ځانګړنه ده. الله تعالی فرمایي: الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ (الحج سورت، ٤۱ آیت) ژباړه: (هغه کسان دي چې که مونږ دوی ته په ځمکه کې قدرت ورکړو (نو) دوی به لمونځ قایموي او زکات به ادا کوي او د نېکۍ حکم به کوي او له بدۍ نه به خلک منعه کوي، او د ټولو کارنو انجام خاص د الله لپاره دی)

۵. د فساد له خپرولو څخه ډډه: رسنۍ به د ټولنې وګړي په ټولنه کې د فساد له خپرولو وېروي او ددې کار له خطرناکو زیانونو څخه به هغوی خبروي.

٦. د اختلاف له منځه وړل: د رسنیو یوه بله اخلاقي دنده داده چې په اسلامي ټولنو کې د اختلاف د منځه وړلو لپاره به هر ډول هڅه کوي او د مسلمانانو د یووالي او اتفاق لپاره به هېڅ هم نه سپموي.

۷. له ظلم او استکبار سره مخالفت: ظلم سره مبارزه او د ظلم او جبر د له منځه وړلو لپاره لاره هوارول د رسنیو یوه مهمه ځانګړنه ده چې د مظلوم څخه دفاع وشي او د مستکبرینو په مقابل کې ودرېږي، دا نه یوازې د رسنیو، بلکې د هر انسان دنده ده.

۸. اخلاقي فضایلو ته پراختیا ورکول.

۹. له مظلوم څخه ملاتړ او د مظلوم په ګټه افشاګري او د ظالم پروړاندې درېدل.

۱۰. خلک یووالي او وحدت ته تشویقول او له اختلاف څخه مخنیوی.

۱۱. خلک همکارۍ، نېکۍ او تقوا ته تشویقول.

۱۲. عمومي مصالحو ته پاملرنه کول.

۱۳. د خصوصي حریم او د خلکو حقوق رعایتول.

۱٤. د دیني زده کړو خپراوی: د رسنیو خاوندان باید هڅه وکړي چې دیني زده کړې د خپلو رسنیو له لارې ټولنې ته وړاندې کړي کله چې ټولنه کې دیني زدکړې عامې شوې او هرې کورنۍ ته ننوتې نو خیر پراخ شو او د خیر په پراختیا کې خلک د سوکالۍ او هوساینې ډاډ ترلاسه کوي.

۱۵. د واقعیتونو بیانول: د رسنیو بله اخلاقي ځانګړتیا داده چې د دروغو له خپرولو څخه به ډډه کوي او د ټولنې واقعیتونه به بیانوي باطل ته باطل وایي او حق ته به حق، او که چېرې حقایق و نه ویل شي او واقعیتونه پټ کړای شي او یا پکې تحریف وشي نو بیا رسنیو ته زیان رسوي

او په ټولنه کې چې کوم اعتماد لري هغه هم له لاسه ورکوي.

گزارشگری تحقیقی و چگونگی آن در رسانه های افغانستان!


حمیدالله امیری، عضو کمیسیون اجرایی انجمن گهیځ

قبـل از آن کـه بحـث خـود را راجـع بـه گـزارش تحقیقـی در رسـانه هـای همگانـی مثـل رادیـو، تلویزیـون، ویـب سـایت و نشـریه هـای چاپـی (روزنامـه، هفتـه نامـه، گاه نامـه، مجلـه...) کـه در دهـه اخیـر در افغانسـتان نـشرات داشـته انـد بـاز کنیـم، در قـدم نخسـت بـه تعریـف و شـناخت مختـصر در مـورد گـزارش تحقیقـی مـی پردازیـم کـه دانشـمندان ایـن علـم آنـرا بیـان نمـوده انـد.

گـزارش تحقیقـی (Investigative Reporting) یـا پیگیرانـه (Inquiry Investigation) نوعـی از گزارشـی اسـت کـه عـلاوه بـر توصیـف و توضیـح واقعـه بـه تحقیـق و عمـق مسـائل جـدی در ابعـاد مختلـف سیاسـی، اقتصـادی و اجتماعـی آن نیـز توجـه دارد. هـدف از تهیـه گـزارش تحقیقـی، ورود بـه لایـه هـای درونـی موضـوع و نگاهـی عمیـق بـه ابعـاد مختلـف آن در یـک جامعـه مـی باشـد کـه در ایـن نـوع گـزارش، محقـق و یـا ژورنالسـت در صـدد نشـان دادن ابعـاد و جوانـب مختلـف موضـوع بـر اسـاس جمـع آوری مسـتند، یافتـه هـای علمـی و نظریـات کارشناسـی بـر مـی آیـد، تـا آنکـه زوایـای تاریـک و پنهـان موضـوع را روشـن سـازد.

گـزارش تحقیقـی گاه شـامل موضوعـات پیچیـده و منحصـر بـه فـرد مـی شـود و گاهـی هـم مسـایل پنهـان مربـوط بـه یـک سـازمان و یـا نهـاد را کـه از دیـد مـردم پنهـان اسـت، نخسـت کشـف نمـود و بعـد آشـکار مـی کنـد. گـزارش هـای تحقیقـی حقایـق و واقعیـت هایـی پنهـان جامعـه را منعکـس مـی کنـد، کـه اطلاعـات آن بـرای عمـوم مـردم مفیـد و بـا ارزش اسـت و برخـی گـزارش هـای تحقیقـی اطلاعـات مهمـی را در خـور کارشناسـان امـور قـرار مـی دهـد. بەطـور عمـوم میتـوان گفـت کـه گـزارش هـای تحقیقـی دو نـوع انـد، نخسـت گـزارش هـای تحقیقـی کـه توسـط نهادهـا و یـا مراکـز تحقیقاتـی بـه روش هـای مخلتـف جمـع آوری شـده و بعـد توسـط مراکـز مذکـور از طریـق رسـانه هـا نـشر مـی شـوند. نـوع دوم گـزارش هـای تحقیقـی، کـه بنـام ژورنالیـزم تحقیقـی نیـز یـاد مـی شـود آنسـت کـه ژونالسـتان مسـلکی موضوعـات خاصـی ماننـد جرائـم سـازمان یافتـه، فسـاد هـای سیاسـی، اقتصـادی و اجتماعـی را کـه از دیـد جامعـه پنهـان اسـت بررسـی همـه جانبـه نمـوده و از طریـق رسـانه هـای بـه نـشر مـی رسـانند.

پیشینۀ ژورنالیزم تحقیقی:



پیشـینۀ گـزارش تحقیقـی در مطبوعـات جهـان را دانشـمندان ایـن علـم بـه نیمـه قـرن نوزدهـم میـلادی پیونـد مـی دهنـد. و یکـی از مشـهورترین گـزارش تحقیقـی، گـزارش تحقیقـی موسـوم بـه واتـر گیـت بود،کـه خبرنـگاران روزنامـه آمریکایـی (واشـنگتن پسـت) بـا نزدیـک بـه دو سـال بررسـی پیگیـر و تحقیـق، پـرده از اقدامـات خـلاف قانونـی ریچـارد نیکسـون رئیـس جمهـور سـابق امریـکا در جریـان مبـارزات انتخاباتـی برداشـتند و وی را مجبـور بـه اسـتعفا کردنـد.

از آن زمـان بـه بعـد، گـزارش تحقیقـی یـا افشـاگری و علنـی سـاختن افتضاحـات (Muckrake) بـه عنـوان یـک سـبک تحـت نـام ژورنالیـزم تحقیقـی مـورد توجـه رسـانەها همگانـی ماننـد رسـانه هـای چاپـی (روزنامـه هـا، هفتـه نامـه هـا، ماهنامـه هـا، گاهنامـه هـا مجلـه هـا...) و شـبکه هـای رادیویـی، تلویزیونـی و انترنتـی قـرار گرفـت. کـه بیشـتر نسـبت بـه گذشـته توجـه مـردم را بەخـود جلـب کـرد. در ایـن سـبک، ژورنالیـزم یـا گزارشـگری تحقیقـی بـه مسـائل و سـوء اسـتفاده سیاسـی، اجتماعـی، اقتصـادی ... مـیپـردازد. بـه عبارتـی دیگـر بـه دنبـال ماهیـت و واقعیـت پنهـان در میـان رویدادهـای جامعـه مـی گـردد.

البتـه بایـد گفـت کـه ایـن روش در ژورنالیـزم، تنهـا محـدود بـه سـوء اسـتفادەهای دولـت مـردان نیسـت، بلکـه بـه طـور کلـی عملکـرد نهادهـا، مؤسسـەها، شرکتهـا و سـازمانهای مختلفـی را کـه در جامعـه فعالیـت میکننـد، در بـر مـی گیـرد. یعنـی همـه فعالیتهـای جامعـه اعـم از دولتـی و غیـر دولتـی، خصوصـی و شـخصی، زیـر

نگاه‌هـای تیـز بیـن ژورنالسـت پژوهشـگر، مـورد تحقیـق و بـررسی قـرار مـی گیرنـد.
مـی تـوان گفـت کـه ایـن سـبک بیشـتر بـه عنـوان یـک شـیوه تأثیرگـذار در مسـلک ژورنالیـزم در خدمـت بهبـود کیفیـت زندگـی مردم قـرار دارد. سـبک و شیوه‌ای کـه راه خـود را بـه منابـع آموزشـی ژورنالیسـتی نیـز بـاز کـرده اسـت و بـرای حفـظ و ادامـه حیـات آن توسط دانشـمندان ژورنالیـزم و نهادهـای حمایـت کننـده رسـانه هـا تـلاش هـای بسـیار می‌شـود.

انواع گزارش تحقیقی:

گزارش‌هـای تحقیقـی را دانشـمندان ژورنالیـزم در قالب‌هـای متفاوتـی تقسـیم بنـدی کـرده انـد؛ عده‌ای شـان آنـرا بـه سـه نـوع زیـر تقسـیم کرده‌انـد:
گـزارش تحقیقـی مرکـب؛ در چارچـوب ایـن قبیـل گزارش‌هـای تحقیقـی، ممکـن اسـت از گزارش‌هـا، مصاحبـه هـا، آمارهـا، اظهـار نظرهـای و سـندهای مختلـف اسـتفاده شـود و بـا ترکیـب همـه اطلاعـات کسـب شـده، مقالـه یـا مقالاتـی به‌عنـوان گـزارش تحقیقـی در بـاره یـک مسـئله زندگـی عمومـی در رسـانه هـا منتـشر شـود. گزارش‌های تحقیقـی مرکب، بـه موضوع و طـرح مسـایل سیاسـی، اقتصـادی و اجتماعـی، مـی پـردازد.
گـزارش تحقیقـی سـاده؛ گزارشـی اسـت کـه در آن، فقـط یـک مسـئله سـاده اجتماعـی مطـرح شـده و بـدون تحقیـق وسـیع اجتماعـی، نظـر خواننـدگان، شـنوندگان یـا بیننـدگان جسـته می‌شـود. ایـن نـوع گـزارش، بـر پایـه نظرخواهـی شـکل می‌گیـرد.
گـزارش تحقیقـی آزمونـی (آزمونـی)؛ ایـن نـوع گـزارش، در رسـانه هـا جهـت سـنجش افـکار عمومـی بـرای پیش‌بینـی انتخابـات عمومـی یـا امـکان فـروش یـک کالا و نظایـر آن‌هـا کاربـرد دارد و در روزنامه‌هـا کمتـر مـورد اسـتفاده قـرار می‌گیـرد.

ویژگی ها و ابعاد گزارش تحقیقی:

گـزارش تحقیقـی حاصـل کار حرفه‌ای ژورنالسـت و قُلـه کوشـش‌های روزنامـه نگارانـه شـناخته مـی شـود. ایـن گـزارش، چنـد ویژگـی انحصـاری دارد: وقـت گیـر مـی باشـد، هزینـه بـر اسـت، بـه پنهـان کاری نیـاز دارد، حسـاس اسـت و خطرنـاک نیـز مـی باشـد. گـزارش تحقیقـی و یـا پیگیرانـه از جلوه‌هـای بیرونـی اندیشـه حـق نظارتـی رسـانه‌ها بـه شـمار می‌آیـد. ایـن نـوع گـزارش، نـوع جمـع‌آوری اطلاعـات مسـتند از یـک موضـوع اسـت کـه در آن ژورنالسـت، خـود را بـه شـکلی عمیـق در وضعیـت غـرق مـی کنـد و موضـوع را در عمـق مـی کاود.
ایـن نـوع گـزارش، روز بـه روز در وسـایل ارتباطـات اجتماعـی به‌خصـوص رسـانه هـای همگانـی بیشـتر مـورد اسـتفاده واقـع می‌شـود و جـای گزارش‌هـای بـزرگ را در رسـانه هـا را مـی گیـرد، کـه توجـه مـردم و مسـؤولین رسـانه هـای را بیشـتر و نسـبت بـه همـه گـزارش هـای به‌خـود جلـب نمـوده اسـت.

گزارش تحقیقی در رسانه های افغانستان:

افغانسـتان از جملـه کشـور هـای اسـت کـه نسـبت بـه سـایر جامعـه هـا، رسـانه هـا در ایـن کشـور پیشـینهٔ تاریخـی کـم تـر دارد و اولیـن نشریـه در افغانسـتان تحـت نـام شـمس النهـار در سـال ۱۸۷۳ میـلادی در دورهٔ امیـر شـیرعلی خـان تسـجیل شـده اسـت. گرچـه دیدگاهـی هـم وجـود دارد کـه نخسـتین نشریـه توسـط سـیدجمال الدیـن افغانـی در افغانسـتان نـشر شـده اسـت، ولـی اسـناد مؤثـق در ایـن مـورد ارایـه نشـده اسـت. بـه هـر حـال نظـام هـای سیاسـی در طـول تاریـخ در کشـور طـوری بـوده اسـت کـه رسـانه هـا بسـتر مناسـب نداشـتند کـه بشـکل آزاد بـدون سانسـور فعالیـت داشـته باشـند؛ امـا پـس از ۲۰۰۱ میـلادی بـا فروپاشـی نظـام طالبـان و تشـکیل نظـام جدیـد بـه همـکاری جامعـه جهانـی در افغانسـتان ماننـد عرصـه هـای دیگـر سیاسـی، اجتماعـی، اقتصـادی و فرهنگـی در افغانسـتان بسـتر و ظهـور رسـانه هـای نـو پـا نیـز بیشـتر شـد، حـق آزادی بیـان و رسـانه هـا از طریـق قانـون رسـانه هـا بـه رسـمیت شـناخته شـد و همچنـان حمایـت هـای مالـی جامعـه جهانـی باعـث رشـد بـی سـابقه رسـانه هـای کشـور گردیـد کـه در تاریـخ گذشـته رسـانه هـا در افغانسـتان بـی سـابقه بـوده اسـت.
در ایـن مـدت بـرای نخسـتین بـار شـهروندان کشـور حـق تأسـیس رسـانه هـای تصویـری و صوتـی را در یافـت نمودنـد در حالیکـه در گذشـته تنهـا دولـت مـردان و یـا نظـام هـای سیاسـی حـق تأسـیس رادیـو و تلویزیـون را داشـته انـد، و از سـوی هـم رسـانه هـای تصویـری، صوتـی و چاپـی فعالیـت هـای شـان را بـدور از سانسـور به‌طـور آزاد بـرای دیگـر اندیشـی و نقـد سیاسـیون بسـط نمـوده انـد، تـا دولـت مـردان به‌حیـث یـک قـوه تأثیـر گـذار بـه رسـانه کشـور ارزش دهنـد و در برابـر رسـانه هـای کـه عنـوان پـل ارتباطـی میـان ملـت و دولـت هسـتند ارزش پایایـی قایـل شـوند. رسـانه هـای اعـم با درک جایگاهـا و مسـؤولیت شـان در قابـل مـردم جامعـه و جلـب توجه مخاطبـان شـان در سـدد نقـد و اصـلاح دولـت مـردان، سیاسـیون و نظـام سیاسـی کشـور شـدند، کـه گام‌هـای عملـی را بـا تهیـه گـزارش هـای تحقیقـی در رسـانه هـا برداشـتند، ژورنالیـزم تحقیقـی گرچـه در افغانسـتان تازگـی دارد ولـی کارکردهـای خوبـی هـم در کارنامـه هـای خـود داشـته اسـت، از برکنـاری برخـی افـراد بانفـوذ گرفتـه تـا افشـای فسـاد مالـی و اداری در برخـی نهادهـای حکومتـی و خصوصـی در کشـور، کـه ایـن همـه را مـی تـوان نتایـج خـوب گـزارش هـای تحقیقـی در کشـور خوانـد، ولـی از سـوی هـم بـا اسـتفاده از نـام گـزارش تحقیقـی برخـی رسـانه هـای و آژانـس هـای خـبری تهمـت هـای بـزرگ و حتـک حرمـت بـه اشـخاص حقیقـی و حکمـی کردنـد، کـه بعـد از رسـیدگی بـه پرونـده هـای شـان توسـط نهادهـای مسـوول، متوجـه خطـا هـای خـود شـده و معـذرت خواهـی نمودنـد. ایـن عملکـرد افـراد انگشـت شـمار در رسـانه هـای و آژانـس هـای خـبری در حقیقـت جایـگاه ژورنالیـزم تحقیقـی در کشـور را بـا سـوء اسـتفاده از مسـؤولیت وظیفـوی و غیـر مسـلکی آسـیب بـزرگ و غیـر قابـل جـبران مـی رسـاند، کـه بـه عنـوان یـک ژورنالسـت نمـی تـوان از آن چشـم بسـت و گذشـت. بایـد بـه ایـن خلاهـا و سـوء اسـتفاده هـا از گـزارش تحقیقـی در قـدم نخسـت مسـؤولین رسـانه هـا و ثانیـاً

ژورنالستان رسیدگی نموده و نقطه پایان گذارند. ولی این را نیز باید پذیرفت که حتی در کشور های که خود را حامی رسانه های آزاد عنوان می کنند و همه روزه فریاد آزادی بیان را سر می دهند نیز برخی تخطی های قابل ملاحظه یی وجود دارد، که کارکردهای ژورنالیزم تحقیقی را زیر سوال می برد.

موانع و چالش های فرا راه ژورنالیزم تحقیقی در افغانستان:

موانع و چالش های بسیار زیاد فرا راه تهیه گزارش تحقیقی در افغانستان درج شده است که به عنوان نمونه چند مثال از این چالشها را در این جا ذکر می کنیم:

۱. نا امنی در افغانستان نه تنها که بخش های دیگر جامعه را به پرتگاه برده است، بلکه ضربه محکمی بر پیکر نیم جان ژورنالیزم تحقیقی در افغانستان نیز وارد نموده است. به اساس نظر سنجی نهاد حمایت کننده رسانه های آزاد افغانستان (نی) در مورد موانع فرا راه تهیه گزارش های تحقیقی، عدم دسترسی به اطلاعات در افغانستان، عدم توجه حکومت به گزارش های تحقیقی و نا امنی از عمده ترین چالش ها برای تهیه گزارش های تحقیقی در کشور می باشد. امنیت در مناطقی که گزارشگر تحقیقی گزارش تهیه می کند از مؤلفه های اساسی میباشد که بدون تأمین امنیت مناطق نمی توان که به تهیه گزارش تحقیقی رجوع کرد، چونکه مصؤونیت جانی و مالی ژورنالست تحقیقی نیز مهم می باشد. و از سوی دیگر هم تهدید های بر جان گزارشگر تحقیقی را نیز در افغانستان نمی توان نادیده گرفت، تهدید ها از سوی مخالفین مسلح دولتی، حلقه های بزرگ مافیایی، زورمندان و قوماندان های محلی و برخی مقامات حکومتی نیز موانع اساسی سد راه تهیه گزارش تحقیقی در کشور شمرده می شود.

۲. گزارش های تحقیقی وقت گیر است، ماه ها و حتی یک یا دوسال... سپری می شود تا یک ژورنالست موفق به تهیه گزارش تحقیقی می شود، در حالیکه مسؤولین رسانه در کشور بیشتر متکی به کار روزانه از ژورنالست اند تا برنامه های و گزارش های متنوع در رسانه داشته باشند و بهصورت عموم از یک ژورنالست در چند بخش مختلف در رسانه های خویش استفاده می کند تا هزینه اش کمتر شود.

۳. گزارش تحقیقی حاصل کار حرفه ای ژورنالست می باشد، ولی متأسفانه که اکثراً در رسانه های افغانستان ژورنالستان مسلکی و حرفه ای کمتر دیده می شود و بیشتر افرادی که در رسانه ها فعالیت می کنند خلاف رشته و آماتور هستند، و برخی ها هم مسلک ژورنالیزم را جهت شهرت یافتن در میان مردم و یا بهحیث تخته خیز برای رسیدن به اهداف دیگری انتخاب می کنند. و همچنان گماشتن این افراد در رهبری رسانه های به اساس وابستگی های شان به مالکین رسانه های انتخاب می شوند.

٤. مالکین رسانه ها در افغانستان بیشتر احزاب سیاسی، افراد تاجر، اشخاص و رهبران با نفوذ می باشد، که بیشتر وقت شان را روی اهداف سازمانی، نفوذ قومی و یا بهدست آوردن منافع مالی و سیاسی سپری می نمایند، کمتر علاقه مندی به تهیه و نشر گزارش های تحقیقی در رسانه های خویش دارند و از سوی هم برخی از مالکین رسانه ها به نحوه ای در فساد و جرایم نقش دارند.

۵. گزارش های تحقیقی هزینه بردار است، از نخستین گام برای تهیه گزارش تحقیقی باید که هزینه آنرا در نظر گرفت، بهدست آوردن اسناد مؤثق یکی از ارزش های اساسی در گزارش تحقیقی می باشد که تهیه کردن و بهدست آوردن آن کار بسا دشوار برای یک ژورنالست محقق می باشد. و تا هنگامیکه گزارش تحقیقی آماده برای نشر می شود هزینه بردار می باشد، که باید مسوولین رسانه ها با گزارشگر تحقیقی همکاری همه جانبه نماید ولی متأسفانه این امر در رسانه های افغانستان کمتر دیده می شود.

نتیجه گیری:

گزارش تحقیقی در افغانستان آهسته آهسته جایگاه مناسب و خوب را به خود گرفته است که توجه بیشتر مخاطبان آگاه و مسؤولین رسانه های تصویری، صوتی، چاپی و انترنتی را در محور خود جلب کرده است، نهادهای حمایت از رسانه های آزاد در افغانستان در سدد آموزش و نهادینه کردن گزارش تحقیقی بگونه ای مسلکی در رسانه های کشور شدند، که در این راستا ورکشاپ های آموزشی را برای ژورنالستان در نقاط مختلف کشور دایر نموده اند، و از سوی هم رسانه های خصوصی در کشور نسبت به گذشته توجه بیشتر به گزارش تحقیقی نمود اند، این نوع گزارش در حقیقت حمایت از حقوق بشر، حقوق شهروندان و اوج آزادی بیان، دفاع از حق مردم مظلوم جامعه است در برابر فساد پیش رفته سیاسی قدرتمند، مافیای ظالم و جلو گیری از سوء استفاده احتمالی فساد پیشه گان در نظام سیاسی یک کشور. کارشناسان امور گزارش تحقیقی در رسانه های را نقطه اوج آزادی بیان می دانند و در راستای تحقق آن و بسط جامعه بشری خواهان همکاری و توسعه این ژانر ژورنالیستکی در رسانه های و آموزش آن به گونه ای حرفه ای در دانشگاه ها و انستیتیوت های خبرنگاری می باشند. از سوی هم افغانستان از جمله کشور های نا امنی برای جامعه رسانه یی و ژورنالستان پژوهشگر می باشد. به اساس گزارش کمیته خبرنگاران افغان، سال ۲۰۱۸ نیز همانند سالیان قبل، سال خونین و پر چالش برای خبرنگاران و جامعه رسانی بود است.

منابع:

۱- معتمدنژاد، کاظم؛ روزنامه نگاری با فصلی جدید در بازنگری روزنامه نگاری معاصر، تهران انتشارات، سپهر، ۱۳۸۲.

۲- بدیعی، نعیم و قندی، حسین؛ روزنامه نگاری نوی، تهران، انتشارات علامه طبا طبایی، ۱۳۸۲.

۳- قاضی زاده، علی اکبر؛ گزارش نگاری، تهران دفتر مطالعات و توسعه رسانه ها، ۱۳۸۷.

فيچر او د فيچر ليکنې ډولونه

ضياءالاسلام شيراني، د ګهيځ ټولنې غړی

فيچر د اوسني ژورناليزم يو مهم ژانر دی او نن سبا په نړۍ کې ډېر لوستونکي لري. دغه ژانر د ادب او ژورناليزم يو ګډ ژانر هم بلل کېږي، ځکه د فيچر ژبه ادبي رنګ لري. فيچر تر ډېره مجلو او ورځپاڼو ته ليکل کېږي؛ خو راډيويي او ټلويزيوني فيچرونه هم شته. راډيويي او ټلويزيوني فيچرونه نظر د مجلې او ورځپاڼې يا مطبوعاتو فيچر ته لنډ وي.

د فيچر پېژندنه:

د ژورناليزم پوهان د فيچر د کلمې په اړه دوه نظره وړاندې کوي. يو دا چې فيچر د لاتيني ژبې له Factura، Facere او Factum څخه اخيستل شوې کلمه ده چې د سينګار، سينګارولو يا فيشن معنا ورکوي او د نړۍ نورو ژبو ته هم له لاتيني ژبې راغلې ده. دويم دا چې فيچر د لرغونې فرانسوي ژبې کلمه ده چې د فيشن، سينګار او جوړښت معنا ورکوي او د انګليسي ژبې په ګډون د نړۍ نورو ژبو ته فيچر له همدې لرغونې فرانسوي ژبې راغلی دی.

پوهنمل محمد خان نيازي په خپل کتاب «فيچر ليکنه» کې ليکي چې فيچر اصلاً د لرغونې فرانسوي ژبې کلمه ده چې له همدې ژبې انګليسي او له انګليسي څخه يې نورو ژبو ته د خپل ارزښت له مخې لار موندلې ده. په ټوله کې د فيچر لغوي معنا د يو شي ظاهر، بڼه، مخ، جوړښت، نندراه او ښوونه ښودل شوې ده.

د فيچر د اصطلاحي معنا په اړه هم د ژورناليزم پوهانو بېلابېل تعريفونه کړي دي. ډاکټر مسکين علي حجازي وايي: «فيچر پر يوې له پامه غورځېدنې موضوع داسې ليکنه ده چې په زړه پورې او د لوستلو وړ يې کړي.»

امريکايي پېټرسن وايي :«فيچر خبر ته ورته يوه ليکنه ده چې له حقايقو سره ځېړنه، شننه او مرکې په کې د دې لپاره ور زياتې شوې دي، ترڅو د لوستونکو لارښوونه وکړي او هغوی له موضوع خبر کړي.

ايم لايل سپنسر د فيچر په اړه وايي چې «فيچر د ورځپاڼه ليکونکو يو داسې نوښت دی چې کم ارزښته خبرونه لوړوي، لوستونکو ته سالمه تفريح او په زړه پورې معلومات په طنزي او ډرامايي بڼه وړاندې کوي. »

زابر بدر ليکي: «فيچر د ژورناليزم يو ځانګړی ډول دی چې موخه يې لوستونکو ته سالمه تفريح، معلومات او په ادبي ډرامايي بڼه تر پايه له ځان سره د لوستونکو ساتل دي چې دا کار يوازې تجربه کار، ماهر او مسلکي ژورناليستان کولای شي.»

فيچر د نوي ژورناليزم هغه ژانر دی چې د خبر او رپوټ په څېر په پېښو پورې اړوند حقيقتونه وړاندې کوي؛ خو په دې توپير چې د خبر ژبه وچه او رسمي وي، مګر د فيچر ژبه معلوماتي، انځوريزه او ډرامايي وي. په خبر کې هڅه کېږي چې شپږو پوښتنو (کله، چېرته، څنګه، څوک، څه ډول، ولې) ته ځواب ورکړل شي؛ خو فيچر شپږو پوښتنو ته د ځواب ورکولو ترڅنګ د پېښې په اړه شننه کوي، او لوستونکي يې له شاليد او راتلونکو اغېزو خبروي.

د فيچر ليکنې ارزښت او اړتيا:

ختيځ ژورناليزم ته فيچر ليکنه د لوېديځو هېوادونو له ژورناليزم څخه راغلې ده. په ختيځو هېوادونو کې د فيچر ليکنې د رواجېدو يو لامل په دغو ټولنو کې هغه وخت د بيان د آزادۍ نشتوالی بلل شوی دی. له دې امله خبريالانو هغه خبرونه او موضوعات چې د خپرېدو اجازه نه ورکول کېده په فيچر يا رنګين پوښ کې خلکو ته د معلوماتو د ورکولو لپاره وړاندې کول؛ خو د فيچر ليکنې اهميت هغه وخت زيات شو چې له ډېرو خبرونو سره دلچسپي لږه شوه، نو د دې لپاره چې لوستونکي د پېښو په اړه معلومات ترلاسه کړي او له ورځپاڼو او مجلو سره يې دلچسپي وساتله شي نو خبريالانو فيچر ليکنې ته مخه وکړه.

په رسنيو کې د فيچر د اهميت يو بل لامل د لوستونکو رواني غوښتنې دي، په اکثرو ټولنو کې ګڼ خلک د ساده او جالبو موضوعاتو لوستل خوښوي، د تبصرو، مقالو، سر مقالو او داسې نورو تحليلي ليکنو پر ځای يې د تفريحي او په زړه پورو مطالبو لوستل زيات خوښېږي؛ نو له هغه ځايه چې رسنۍ د خلکو دغه رواني غوښتنې له پامه نشي غورځولی، د فيچر ليکنې اهميت او ضرورت لا ډېر کړی دی.

د ژورناليزم ډېری لارويان په اند دي چې د مطبوعاتي ليکنو لپاره يوازې د معلوماتو ډېروالی هم نه دی، بلکې د دغو ليکنو په زړه پورې والی هم مهم دی. ځکه لوستونکي د ليکنې تر لوستلو وروسته دا پرېکړه کوي چې زيات او جالب معلومات يې لرل که نه؟ نو د دې لپاره چې يوه مطبوعاتي

لیکنه لوستونکي ځانته راوکاږي باید د لیکنې ظاهري بڼه هم جذابه کړای شي چې دغه کار د فیچر لیکنې په ذریعه کېدلی شي.
دا چې غواړو لوستونکي د لیکنې لوستلو ته وهڅوو، نو فیچر باید په داسې بڼه په ښکلو کلمو او جملو ولیکل شي، چې لوستونکی یې تر پایه په مینه ولولي.

د فیچر ډولونه:

که څه هم فیچر ډېر ډولونه لري؛ خو هغه چې د ګڼو هېوادونو په مطبوعاتو کې د پام وړ دي، دلته یې په اړه معلومات وړاندې کوو:

۱. شخصي فیچر (Personal feature):

شخصي فیچر د مهمو اشخاصو په ژوند او کارونو لیکل کېږي. دا ډول فیچر لیکنه کې د مشهورو سیاسي څېرو، لیکوالانو، هنرمندانو او نورو پیاوړو کسانو په اړه لوستونکو ته معلومات په داسې انداز کې وړاندې کېږي، چې له لوستلو یې خوند واخلي.په شخصي فیچر کې د یوه کس د شخصیت او ژوند مختلفې خواوې څېړل کېږي. د دا ډول فیچر لیکلو لپاره د یوه کس په اړه له لیکل شویو اثار، مرکو او شخصي یادښتونو څخه ګټه اخیستل کېږي.
شخصي فیچر په خپل ذات کې بیا په دوه ډوله لیکل کېږي، یو دا چې یو کس ژوندی وي او په اړه یې فیچر لیکل کیږي. بل دا چې یو شخص مړ وي او په تړاو یې فیچر لیکل کېږي.

۲. تاریخي فیچر (Historical feature):

دا ډول فیچرونه له لویه سره په جالبو تاریخي پېښو او حقایقو لیکل کېږي. په دې ډول فیچر لیکنه کې په ځانګړې توګه هغه تاریخي پېښې چې له کومې نوې واقع شوې پېښې سره تړاو ولري، ډېرې کارول کېږي. د تاریخي فیچر مواد له کتابونو، چاپي پاڼو او له داسې کسانو څخه چې خپله یې په هغې تاریخي دوره کې ژوند کړی وي یا تاریخپوه وي د مرکو له لارې تر لاسه کېدلی شي.

۳. خبري فیچر (News feature):

دا ډول فیچر په هغو له پامه غورځېدلو موضوعاتو او خبرونو لیکل کېږي چې لوستونکو ته مهم نه ښکاري یا دا چې د خبرونو د ډېروالي له امله اصلاً نه خپرېږي. خبري فیچرونه تر ډېره د خبرونو په پاڼه کې چاپېږي او هڅه کېږي چې په دغه ډول فیچر کې انساني احساسات او غوښتنې داسې ګډې شي چې لوستونکي یې په پوره شوق ولولي.

٤. علمي فیچر (Scientific feature):

فـراز و فرودهـای زیـادی را تاریـخ رسـانه‌یی مـا پشـت سر گذاشـته و هرکـدام ایـن فرازهـا و فرودهـا پیامدهـای مثبـت و منفـی را در پی‌داشـته کـه نیازمنـد تحقیـق و کنـکاش فـروان اسـت. امـا آنچـه در جامعـه مـا بـه عنـوان اصلـی اساسـی تلقـی می‌شـود سیاسـت واقـع گرایانـه مسـلکی ژورنالیـزم اسـت کـه بـدون آن جوامـع هرگـز بـه پویایـی و شـکوفایی نایـل نخواهنـد شـد.

فرهنگ‌مـان، اقتصادمـان، اجتماع‌مـان، تربیت‌مـان، سیاسـت داخلـی و خارجی‌مـان وابسـته بـه عملکـرد رسـانه‌های ماسـت. پـس بایـد در سیاسـت آموزشـی و حرفـوی خویـش نـگاه جـدی و عمیـق داشـته باشـیم تـا پیامـد مثبـت و اثـر بخشـی را در کار نـشرات رسـانه‌های چاپـی، شـنیداری و دیـداری بـه ارمغـان آیـد.

کمتریـن بـی توجهـی در حـوزه آمـوزش رسـانه‌یی اسـباب افتیـدن در پرتـگاه آسـیب‌های اجتماعـی را مسـاعد می‌سـازد. لـذا تأکیـد می‌شـود کـه اسـاس و بنیـاد یـک جامعـه همانـا رسـانه‌های هدفمنـد همـان جامعـه اسـت. پـس بنیـاد و اسـاس جامعـه خویـش را بایـد پختـه و اساسـی پایـه ریـزی کنیـم تـا از پرتـگاه سـقوط در امـان باشـیم و راه‌هـای نفـوذ فرهنـگ بیگانـه و سیاسـت‌های مخالـف نظـام و فرهنـگ اسـلامی خویـش را در کنـترل در آوریـم.

منابع و مآخذ:

آهنـگ، کاظـم (۱۳۷۹). «سـیر ژورنالیـزم در افغانسـتان»، کابـل: چـاپ سـوم. انتشـارات میونـد.
غبـار، میرغـلام محمـد (۱۳٤٦). «افغانسـتان در مسـیر تاریـخ»، کابـل: مطبعـه دولتـی.
بدیعـی، نعیـم (و) حسـین قنـدی (۱۳۸۷). «روزنامه‌نـگاری نویـن»، تهـران: انتشـارات دانشـگاه علامـه طباطبایـی.
رهیـن، رسـول(۱۳۸۷). «تاریـخ مطبوعـات افغانسـتان»، (از شـمس-النهـار تـا جمهوریـت). کابـل، نـاشر: شـورای فرهنگـی افغانسـتان.
۳. عصمـت اللهـی، دکـتر محمـد هاشـم(۱۳۸۲). «نظـام مطبوعـات افغانسـتان». تهـران، انتشـارات بیکـران.
۴. تنویـر، محمدحلیـم(۱۳۷۸). «تاریـخ و روزنامـه نـگاری افغانسـتان». پیشـاور، مرکـز نـشرات اسـلامی صبـور.
نوشـین، پوهنیـار ناهیـد(۱۳۸۸). «تاریـخ رادیـو تلویزیـون جهان»،کابـل، انتشـارات فرهنـگ.
حیـدری، شـفیقه(۱۳۸۹). «نـود سـال خـبر»، هـرات: مطبعـه دولتـی هـرات.
دوربیـن، ویـژه نامـه (۱۳۹۲). «ماهنامـه چاپـی»، ارگان نشراتـی فرهنگسـرای دوربیـن هـرات
تحقیـق میدانـی از نمونه‌هـای نشریه‌هـا در هـرات/ فرهنـگ سرای دوربیـن.
مصاحبه با نوراحمد کریمی، پژوهشگر رسانه‌یی در هرات.

الفت او اقبال؛ د يوه فکر دوه انځورونه!

د ګهيځ ټولنې غړی- محمد شعيب قريشي

زمونږ د هېواد د تاريخ يوه غميزه داده چې دلته همېشه فکرونه رټل شوي دي او د خوربدو او روڼتيا مخه يې نيول شوې ده، او په مقابل کې ډېرو هغو کسانو ته وده ورکړل شوې ده چې د بادار او دربار له پاره يې قلم چلولی او دا لړی -په خواشينۍ سره- اوس هم روانه ده.



له افغان سيد جمال الدين ځخه يې که را پيل کړو، تر استاذ ګل پاچا الفت پورې او تر ننه دا لړی روانه ده، ډېر فکرونه په ککريو کې خاورې کېږي او ډېر استعدادونه په کليو او بانډو کې ضايع کېږي او کوم يو يې چې د رشد او غوړېدا هڅه هم وکړي، رشد او خوربدا ته نه پرېښودل کېږي، او په مقابل کې پر داسې کسانو د نابغه او پوهان نومونه اېښودل کېږي چې د پوهې او علم له ډګر ځخه ډېر لرې وي، خو يوازې له دربار سره پېژني او هر ډهل ته نڅېدلی شي.

زمونږ د هېواد يو له هغو استعدادونو چې په هېڅ توګه يې د علم قدر -لکه چې ښايي- و نه شو، استاذ ګل پاچا الفت دی، چې نه يوازې يو ليکوال، ژورناليست، شاعر او عالم ؤ، بلکې د يو نوښتګر فکر سر لاری او د محمد اقبال لاهوري په څېر د وينښتابه خورځنګ له ډلې ځخه يې شمېرلی شو.


ګل پاچا الفت هم د همغې پېړۍ اوسېدونکی ؤ په کومه کې چې علامه محمد اقبال ژوند کاوه، د انګريزي ښکېلاک پېر او د عثماني خلافت د زوال وخت. د مسلمانانو د جهالت او وروسته پاتې‌والي زمانه او د غرب د علم، غوړېدا او پرمختګ مهال.

هو! په داسې وخت کې په يو داسې هېواد کې چې هلته د علم او پوهې نه خلک ډېر لرې پاتې وو او د علم او پرمختګ له ډګر ځخه په سيمه‌ييزه کچه افغانستان ډېر وروسته ؤ، په داسې وخت او داسې هېواد کې استاذ ګل پاچا الفت دې نړۍ ته سترګې و غړولې، په داسې حال کې چې د زده کړې لپاره يې ښوونځی هم نه ؤ، يوازې په جومات او حجره کې يې خپلې زده‌کړې پرمخ بوتلې.

ګل پاچا الفت څوک ؤ؟

ګل پاچا الفت د مير سيد پاچا زوی د لغمان ولايت، د عزيز خان کڅ د منصور کلي کې په کال ۱۲۸۸لمريز (۱۹۱۰زېږديز) کې دې نړۍ ته سترګې پرانستي دي.

له رسمي زده‌کړې بې برخې ؤ، خو د الهي استعداد په لرلو سره له جومات او حجرې نه يې د وخت دود علوم زده کړل او له علم او پوهې سره مينې يې د مطالعې لمنه دومره پراخه کړه چې د غرب د فلاسفه‌وو او د شرق د نوابغو ډېر کتابونه يې په ستونزو تر لاسه کړل، ويې لوستل، څه يې ترېنه واخيستل او خپله علمي تنده يې پرې ماته کړه.



استاذ ګل پاچا الفت چې کله په ښه، بد وپوهېده، نو د خپل هېواد او خلکو خوار حالت او وروسته پاتې‌والی يې د عقل پر سترګو ولېده، علتونو ته ځير شو، ننګونې يې ولېدې او بيا يې د حل لارې پر ګوته کړې، خو لکه ځنګه چې د آزاد فکر او لوړ عزم څښتن ؤ، د هغه وخت په نادوده رسمي چاپېريال کې يې د تګ هغه چل نه ؤ زده چې د دربار پلويانو يې تمه لرله، نو رغنيز غږ يې په انتقادي زوږ بدل شو. چې په شعر او نثر کې يې داسې ډېرې بېلګې شته چې په انتقادي بڼه د ټولنې او نظام ناخوالې پر ګوته کوي او په دې لاره کې د هېڅ لوري خيال هم نه ساتي، نه د غوړه‌مال ليکوال، نه د رشوت خور حاکم او نه هم له دين نه د غلط فهم اخيستونکو ځينې کسانو.

په همدې چاپېريال کې ګل‌پاچا ستر شو، د قلم انګازې يې له هېواد ځخه بهر ووتلې او د فکر ژورو يې ډېر خلک را وېښ کړل، خو بيا هم لکه ځنګه چې ښايي د فکري پراختيا او غوړېدا لپاره يې د ميدان د نه شتون له کبله او د غوړه‌مالو درباريانو د بدبينۍ له مخې د هېواد په هسکو غرونو کې يې غږ بند پاتې شو، خو انګازې يې لا تر ننه ختمې نه شوې.

محمد اقبال لاهوري او ګل پاچا الفت:

که څه هم دا مقايسه به ځينې کسانو ته نا آشنا و بريښي، خو که څوک لږ په غور سره د الفت صيب ليکنو او شعرونو ته ځير شي، نو د هغه پېر د وينښتابه د سرخيلو د فکر ځرک به له ورايه

د اسـتاذ گل پاچـا الفـت پـه ليکنـو کـې وګـوري، چـې پـه سر کـې يـې محمـد اقبـال لاهـوري دی.
علامــه اقبــال چــې پــه ۱۲۵۶ لمريــز يــا ۱۸۷۸زېږديــز کال د هندوسـتان د پنجـاب ايـالات پـه سـيالکوټ کـې زېږيدلـی دی، لـه ګل پاچـا الفـت سره ډېـر ورتـه والـی لـري او –تقريبـا- پـه لږ تفـاوت سره پـه يـو وخـت او نړيوالـو حالاتـو کـې اوسـېدلي دي.
دا هغـه وخـت دی چـې انګريـزي ښـکېلاک د نيمـې نـه زياتـه نـړۍ تـر واک لانـدې لرلـه او اکـثره اسـلامي او شرقـي هېوادونـه يـې تـر ولکـې لانـدې وو، عثـماني خلافـت نـوی ړنـګ شـوی ؤ او پـر ځـای يـې پـه اسـلامي نـړۍ کـې اسـتبدادي او خانـداني حکومتونـه رامنځ تـه شـوي وو او پـه دې اکـثرو هېوادونـو کـې د فکـر او د فکـر خاونـدان حاکمانـو تـه د زغملـو وړ نـه ؤ، نـو ځکـه لـه دې وړانـدې علامـه سيد جـمال الديـن هـم د فکرونـو د تړلـو لـه هېـواد ځخـه کـډې کولـو تـه اړ شـو، او د همـدې لپـاره اسـتاذ ګل پاچـا الفـت تـه هغـه مقـام ور نـه کـړل شـو چـې هغـه وخـت کـې لـه ده ځخـه پـه علمـي ډګـر او فکـري چاپېريـال کـې ډېـرو وروسـته پاتـې کسـانو پـه غـوړه مالـۍ او دربـار سـتاينه کـې تـر لاسـه کـړ.
بلخـوا علامـه اقبـال تـه د انګريـز تـر اسـتعمار لانـدې تـر دې ښـه آزادي وه، او بـل دا چـې هغـه د تنـګ افغانسـتان پرځـای پـه لـوی هندوسـتان کـې ژونـد کاوه، چـې تـر خـوا يـې نـور د لـوی فکـر خاونـدان هـم لـه هغـه وړانـدې، لـه هغـه سره او لـه هغـه وروسـته پـه هنـد کـې پراتـه وو، د همـدې لپـاره هغـه تـه د انګريـزي ښـکېلاک پـه سـيوري کـې هغـه آزادي حاصلـه وه چـې فکـر يـې لا پکـې رشـد وکـړ، چـې اسـتاذ ګل پاچـا الفـت تـه پـه واړه افغانسـتان کـې د تنګ نظرو واکدارانـو پـه څنـګ کـې هغـه زمينـه او آزادۍ هېڅکلـه هـم پـه لاس ورنغلـه.
د همـدې لپـاره اقبـال پـه پـراخ هندوسـتان کـې خپـل فکـر لا پـراخ کـړ او د غـړ انـګازې يـې شرق او غـرب تـه ورسـېدلې، همـدا راز اقبـال خپلـه علمـي زېرمـه هـم ډېـره قـوي کـړه، ځکـه چـې د تعليـم او زده‌کـړې لپـاره ورتـه لارې پرانسـتې وې، خـو الفـت تـه پـه افغانسـتان کـې هېـڅ هغـه حالـت نـه ؤ برابـر لـه کـوم نـه چـې اقبـال برخمـن ؤ، د همـدې لپـاره د الفـت فکـر او سـوچ هغـه شـان خپـور نـه شـو او و نـه ځلېـده، لکـه څنګـه چـې د اقبـال برخـه وه.
ګل پاچـا الفـت د اقبـال پـه څېـر د سـوچه اسـلامي فکـر، لـه خرفاتـو پـاک چاپېريـال او د خلکـو د ويښـولو پـه لټـه کـې ؤ، چـې د دواړو پـه شـعرونو کـې د دې بېلګـې ليـدل کېدلـی شي، همـدا راز دوی دواړو د غـربي فلاسـفه‌وو لـه ليکنـو او اشـعارو ډېـره ګټـه پورتـه کـړې ده.
الفت- اقبال او سوچه اسلامي فکر:
ګل پاچـا الفـت او علامـه محمـد اقبـال د هغـه وخـت د چاپېريـال خـلاف د سـوچه اسـلامي فکـر لرونکي وو او لـه خرافاتـو او د ديـن پـه نامـه لـه نـادودو يـې پـه هرځـای کـې سر ټکولـی دی او خلـک يـې د سـوچه اسـلامي فکـر پـر لـور رابللـي دي او لـه اسـلام ځخـه غلـط او خرافـاتي فکـر يـې رټـل دی، لکـه چـې الفـت وايـي:

د پلار نيکه پر قدم مه ځه حقيقت پسې ځه
هغه دود پرېږده چې حکمونه د قرآن ماتوي

او وايي:

د سيلاب مخه چې د شګو په بندونو تړي
ژبې او خولې د ملايانو په دمونو تړي
د رنځور تبه په ټوټکو خامو تارونو تړي
بل چېرته نشته دلته شته دا کرامت پښتونه

او دلتـه لـه اسـلام ځخـه د ناسـم فکـر او غلطـې ګټـې اخيسـتنې ښـه انځـور وړانـدې کـوي:

مسلمان اوس د پيرانو بنده‌ګي کړي
لا يو نيم ځانته نسبت د پير د سپي کړي
ډېر افسوس دی نن په حال د مسلمان
ځومره ټيټه مرتبه شوه د ايمان

همد راز اقبال وايي:

اندکی گم شو به قرآن و خبر
باز ای نادان بخويش اندر نگر
در جهان آواره ئی بيچاره ئی
وحدتی گم کرده ئی صد پاره ئی

او وايي:

ز من بر صوفی و ملا سلامی
که پيغام خدا گفتند ما را
ولی تأويل شان در حيرت انداخت
خدا و جبرئيل و مصطفی را

همـدا راز الفـت او اقبـال د مسـلمانانو د راو ښـولو هڅـه کـړې‌ده او هغـه مهـال چـې نيمـه نـړۍ انګريـز د علـم او زور پـر مـټ لانـدې کـړې وه دې دواړو هڅـه کـړې ده تـر څـو دوی هـم خپـل خلـک علـم او پوهـې تـه وهڅـوي او د جهالـت لـه تېـرو يـې را وباسي. همداراز د آزادۍ لـه اصلـي مفهـوم سره يـې اشـنا کـړي او دا پـه ډاګـه کـړي چـې اصلـي آزادي او انسـانيت پـه اسـلام کـې دي، نـه دا چـې ځنـې يـې پـه غـربي تمـدن او فکـر کـې لټـوي، بلخـوا سره لـه دې چـې نـوي تعليمـي سيسـتم دې نـړۍ تـه ډېـر څـه ورکـړل خـو لـه ډېـرو يـې د انسـانيت، روحانيـت او آزادۍ مفهـوم واخيسـت، بلخـوا هغـو تـه چـې د ترقـي مفهـوم يـوازې د غـرب پـه ړانـده تقليـد کـې لټـوي او ترقـۍ او پيشرفـت اصلـي عـالم لـه خيالـه غورځـوي، اقبـال داسـې وايـي:

قوت افرنگ از علم و فن است
از همين آتش چراغش روشن است
علم و فن را ای جوان شوخ و شنگ
مغز می بايد نه ملبوس فرنگ
بنده افرنگ از ذوق نمود
می برد از غربيان رقص و سرود
نقد جان خويش در بازد به لهو
علم دشوار است می سازد به لهو

او وايي:

هم مسلمانان افرنگی مآب
چشمهٔ کوثر بجويند از سراب
اهل دين را بازدان از اهل کين
هم نشين حق بجو با او نشين
کرکسان را رسم و آيين ديگر است
سطوت پرواز شاهين ديگر است

الفت بيا په همدې مفهوم وايي:

په مدرسه کې د اغيارو کله
څوک د افغان زوی نه افغان جوړوي
پردی کلتور پردی لمسون له سرې
حلقه به گوش د این او آن جوړوي
سر کې څه نه پربېردي ماغزه يې مينځي
د سر وبښته چې په ښه شان جوړي
مود پرستي دومره غالبه شوه اوس
ځان خرڅوي خو چاته ځان جوړوي
غلط علاج نه بې علاجه ښه دی
ناجوړه ښه دی که يې وران جوړوي
همدا راز وايي:
گورم جهان کې څوک کعبه ځينې بوتان جوړوي
غلطه پوهه له سرې ځينې شيطان جوړوي
د سړو کار دی چې د خپل وطن کارونه کړي جوړ
نجونه او پېغلې سينگارونه کوي ځان جوړوي
تهذيب ضرور دی نظافت او ښه لباس دی په کار
فېشن چې زيات شي له ځلمو بازينگران جوړوي
د ودانۍ اميد له هر چانه کېدلی نشي
له خاورو گټو ښه کورونه معماران جوړوي
چې انساني رڼا پيدا شي په مغزو کې د چا
هغه کوښښ کړي په عالم کې انسانان جوړوي
ډېر تفاوت شته په انسان کې د معنا په لحاظ
واړه مشغول دي ځينې ځان ځينې جهان جوړوي
الفت/ اقبال او د يو ملت مفهوم:
لکـه څنگـه چــې د اقبــال پــه فکـر مسـلمانان يــو ملـت دی او د اوسـنيو تېـرو شـوو ليکـو جلاوالـی دوی سره نـه شي بېلولـی، کـه څـه هـم جـلا هېوادونـو او بېلـو سـيمو کـې ژونـد کـوي، خـو بيـا هـم ټـول کـې سره يـو کلتـور او فرهنـگ لـري او دا يــې د يـووالي ښـه او د قـوت اصلـي ځــای دی.
پــه دې اړه الفــت -رحمــه اللــه- د حــج الهــام تــر سرليــک شــعر کــې وايــي:
مختلف او مخالف بېل بېل قومونه
چې تړي د حج دپاره احرامونه
له قومي لباسه هر سړی بهر شي
د هر چا په تن يو لنگ او يو څادر شي
کلتوري اختلاف لاړ شي له نظره
شاهي تاج، شاهي خولۍ لوېږي له سره
نه چلتار د چا په سر نه عمامه وي
د افغان، عرب او ترک يوه جامه وي
تور و سپين عرب عجم سره يو شان شي
د واحد ملت مفهوم ډېر ښه عيان شي
هدف يو د مسلمينو د جهان دی
چې په کاڼو يې هر يو ولي شيطان دی
په رښتيا چې يو امت او يو ملت دی
محمد او ابراهيم ته يې بيعت دی
د شرقي او د غربي قبله يوه ده
پټنگان له هرې خوا ډيوه يوه ده
نه شقاق شته نه نفاق نه اختلاف
معصوم دی د نر او ښځې ايتلاف
او د (خير البشره) د شعر په يو بيت کې د ملت په هکله وايي:
جوړ دې کړ له ملتونو يو ملت
د توحيد د کلمې په برکت
او د اقبال (خودي) پکې پيدا کوي، الفت وايي:
له واړه کوره راوځه لوی جهان سره اشنا شه
خيل، قام نه را اوچت شه له انسان سره اشنا شه
له هگۍ نه را بهر شه په قفس کې مه اوسېږه
له دې ټيټې هوا پورته له طيران سره اشنا شه
د زمان مکان په قيد کې اوسېدنه اسارت دی
محدود مه اوسه هر گوره لا مکان سره اشنا شه
پــه همــدې مفهــوم اقبــال مسـلمانان يــو امــت گڼــي او لــه اقليمونــو يــې پورتــه فکــر کــوي:
قلب ما از هند و روم و شام نيست
مرز و بوم ما بجز اسلام نيست
مسلم استی دل به اقليمی مبند
گم شو اندر جهان چون و چند
او بل ځای کې داسې وايي:
جوهر ما با مقامی بسته نيست
باده ی تندش بجامی بسته نيست
هندی و چينی سفال جام ماست
رومی و شامی گل اندام ماست
قلب ما از هند و روم و شام نيست
مرز و بوم او به جز اسلام نيست
او د همدې شعر په نورو بيتونو کې دې ته اشاره کوي او وايي:
عقده ی قوميت مسلم گشود
از وطن آقای ما هجرت نمود
حکمتش يک ملت گيتی نورد
بر اساس کلمه ئی تعمير کرد
او بل‌ځای کې وايي:
آنچنان قطع اخوت کرده اند
بر وطن تعمير ملت کرده اند
تا وطن را شمع محفل ساختند
نوع انسان را قبائل ساختند
الفت/ اقبال او د آزادۍ اصل مفهوم:
الفــت د انســان اصلــي آزادي پــه اســلام او ايــمان کــې لټــوي او د ربعــي بــن عامــر التميمــي د دې قــول ښــه ترجــماني کــوي، چــې ويــلي يــې ؤ: [اللــه ابتعثنــا لنخــرج مــن شــاء مــن عبــادة العبــاد إلى عبــادة اللــه] ژاړه: اللــه تعالــی مونــږ د دې لپــاره چــې ځينــې کســان چــې اللــه يــې غــواړي د بنده‌گانــو لــه بنده‌گــۍ را بهــر کــړو او د اللــه بنــده‌گان يــې کــړو.
الفـت هـم يـوازې جسـمي آزادي پـوره نـه گڼـي، بلکـې اصـل آزادي د فکـر آزادي گڼـې او د جسـم او فکـر آزادي کاملـه آزادي گڼـي. پـه هغـه وخـت کـې چـې الفـت ژونـد کاوه، کـه څـه هـم پـه سـياسي لحـاظ

افغانسـتان یـو آزاد هېـواد او خلـک یـې اکـثره مسـلمانان وو، خـو پـه فکـري لحـاظ اکـثره ډېـر وروسـته پاتـې، یـا هـم د کمونیسـتي فلسـفي او یـا غـربي تمـدني ښـکلا داسـې غلامـان وو، چـې هرڅـه یـې پـه دې فکرونـو کـې لېـدل، بـل پلـو د حاکـم اسـتبداد لمنـه دومـره پراخـه وه چـې ډېـرو یـې د چاړواکـو غلامـي کولـه او ډېـر لـږ کسـان د آزادۍ لـه اصـلي مفهـوم او د اسـلام لـه اصیـل فهـم سره آشـنا ؤ. الفـت غـواړي چـې خلـک لـه وړو فکرونـو او واړه افغانسـتان را بهـر او لـه جهـان سره آشـنا کـړي او د آزادۍ اصـلي مفهـم ورتـه وښـایي او پوهـې تـه یـې وهڅـوي او د آزادۍ اصـلي مفهـوم ګل‌پاچـا الفـت مرحـوم داسـې پـه ګوتـه کـوي، چـې:

آزادي ده ژوندانه لره اکسیر
لوی دولت دی ورسره خیر کثیر
په عادي نظر کتل ورته ګناه ده
ناپوهي ده د وجدان او د ضمیر
پت عزت د ژوندانه آزادي بویه
بې له دې وي ژوند ذلیل خوار او حقیر
آزادي د تن او غړو څه په کار ده
که دې فکر وي تړلی په ځنځیر
چې آزاد فکر لري په جېلخانه کې
دی آزاد دی نه غلام غونډې وزیر
په تش لاس آزادي نه شي څوک ساتلی
آزاد نه دی بل ته اړ، وږی، فقیر
چې وطن او ملک آزاد وي کله ښایي
چې یې خلک د څو تنو وي اسیر
باداري د زور او زرو چې کړي ورکه
ده همدغه آزادي وړ د تقدیر

همدا راز وایي:

په شړۍ کې ښه یم زه آزاد فقیر
نه وریښمو کې چینجي غونډې اسیر
په خمتا کې حر آزاد ښه دی سل ځله
له غلامه چې لباس یې وي حریر
د وږغنو په کېږدۍ کې که آزاد یم
یو ویښته به یې ورنه کړم په کشمیر
په ویجاړه کې مرغان ځاله کې خوښ وي
په قفس کې د سرو زرو وي زهیر
چې مرغان په هوا وینم چرګ په ځمکه
راته یاد د اسارت شي بد تأثیر

او وایي:

د بندي فکر خاونده د وهمونو نظر بنده
که ذهني آزادي غواړې له عرفان سره اشنا شه
که د ځان په شان انسان ته ودرېدلی یې سر کوزی
ځان دې نه دی پېژندلی، له خپل ځان سره اشنا شه
چې د جاه و جلال بت ته په سجده باندې نسکور یې
بې ایمانه راته ښکارې له ایمان سره اشنا شه

دې تـه ورتـه اقبـال -رحمـه اللـه- هـم مسـلمانان ذهنـي او جسـمي آزادۍ تـه هڅـوي، راوېښـوي یـې او یـووالي تـه یـې را بـولي. وایـي:

تو شمشیری زکام خود بیرون آر
بیرون آر از نیام خود بیرون آر
شب خود روشن از نور یقین کن
ید بیضا بیرون از آستین کن

او وایي:

ماسوای الله را مسلمان بنده نیست
پیش فرعونی سرش افکنده نیست

او پـه آخـر کـې، اقبـال چـې پـه غـلام هندوسـتان کـې د اسـلامي واحـد فکـر لاره او لـه پرنګـي ښـکلاک نـه د آزاد افغانسـتان مشرانـو تـه یـې د امیـد سـترګې نیـولي وې او د اسـلامي نـړۍ لـه غلامـو هېوادونـو نـه ناهیلـی شـوی ؤ، غـازي امـان اللـه خـان تـه پـه ویـل شـوي شـعر کـې داسـې خطـاب د اسـلامي امـت حـال داسـې بیانـوي: (پیشـکش بـه حضـور اعلیحـضرت امیرامـان اللـه خـان فرمانـروای دولـت مسـتقلۀ افغانسـتان خلـد اللـه ملکـه و اجلالـه)

مصریان افتاده در ګرداب نیل
سست رګ تورانیان ژنده پیل
آل عثمان در شکنج روزګار
مشرق و مغرب ز خونش لاله زار
عشق را آئین سلمانی نماند
خاک ایران ماند و ایرانی نماند
سوز و ساز زندګی رفت از ګلش
آن کهن آتش فسرده اندر دلش
مسلم هندی شکم را بنده ئی
خود فروشی دل ز دین بر کنده ئی
در مسلمان شأن محبوبی نماند
خالد و فاروق و ایوبی نماند

او له امان الله خان څخه دا تمه لري:

جان تو بر محنت پیهم صبور
کوش در تهذیب افغان غیور
تا ز صدیقان این امت شوی
بهر دین سرمایۀ قوت شوی
جان ما را لذت احساس نیست
خاک ره جز ریزۀ الماس نیست
علم و دولت نظم کار ملت است
علم و دولت اعتبار ملت است
آن یکی از سینۀ احرار ګیر
وان دګر از سینۀ کهسار ګیر
دشنه زن در پیکر این کائنات
در شکم دارد ګهر چون سومنات
لعل ناب اندر بدخشان تو هست
برق سینا در قهستان تو هست
کشور محکم اساسی بایدت
دیدۀ مردم شناسی بایدت

ګل پاچـا الفـت پـه واړه افغانسـتان کـې د ډېـر غـټ فکـر خاونـد ؤ، د هغـه د ژونـد د ټولـو اړخونـو څېـړل دې تـه اړتیـا لـري، چـې پـه اړه یـې یـو ځانګـړې علمـي ټولنـه کلونـه کار وکـړي ترڅـو د هغـه د فکـر

یک رسانهٔ آن لاین را چگونه تأثیر گذار بسازیم؟

محمد مصطفی نوید عضو کمیسیون اجرایی گهیځ

قبل از اینکه به شرح عنوان برویم، یاد آور می شوم که منظور از رسانه‌ی آنلاین در این کوتاه نوشته، شبکه های اجتماعی است، چه از آدرس عمومیت و کار بر بیشتر داشتن و چه از لحاظ اینکه هر کسی در هر رشته‌ی تحصیل کرده یا نکرده، ژورنالست و روزنامه نگار شده و روزانه در خلال صفحات اجتماعی از وقایع، فکر، حرف و سخن خود می نگارد و یا هم از لحاظ یافتن مخاطبان بیشمار و رایگان برای نویسندگان و فعالان مسلکی دنیای رسانه اهمیت دارد؛ مورد بحث ما است.



و اما این که چگونه یک رسانه آنلاین مؤثر داشته باشیم، یک عنوان توصیفی است و هر کسی بنابر علایق، دانش، سیاست، و نگرش های فکری خود وصفی از آن خواهد داشت، اما قطعا حضور مسلکی در شبکه های اجتماعی مستلزم یک سلسله قواعد و اسلوب و قوانین است که بشدت به آن باید پایبند بود.

خود را در همه شبکه ها مصروف نکنید:

اگر دنبال مؤثریت فعالیت تان در آنلاین میدیا هستید، لازم نیست که در هر شبکه اجتماعی حضور داشته باشید، قطعاً حساب گروپ رسانه ای و شرکت های تجارتی که به خاطری جلب مشتری فعالیت می کنند از هم جداست و آن ها باید مخاطبان را در هرجایی شکار نمایند، اما برای یک فرد حضور پُر محتوا و همیشگی در یک شبکه اجتماعی به مراتب مؤثر تر از حضور پراگنده و ناقص در چندین شبکه است.

دنبال جایگاه باشید:

حالا که به هر دلیلی یک شبکه‌ی اجتماعی را انتخاب و در آن حضور یافتید، بحث ایجاد جایگاه برای خودتان است.

چنانکه اشاره شد هر کسی و از هر صنفی در شبکه های اجتماعی حضور دارند، احتمالاً در بحث مورد علاقه و مسلک شما نیز هزاران نفر حضور دارند و همان حرف های را به خور کاربران فیس بوک میدهند که شما نیز میدهید، اما شما باید واضح کنید که چه بهتری نسبت به دیگران دارید، تا مخاطبان به حرف های شما گوش کنند.

بنابر این از خود بپرسید که چرا در شبکه های اجتماعی حضور دارید؟ شما دنبال چه هستید و چه مطالبی را به نشر می رسانید؟ آیا یک منتقد اجتماعی هستید؟ یک دعوت گر دینی هستید؟

پاسخ به این سوالات را باید بدانید این کار سبب می شود تا در حیطه‌ی تخصص دیگران حرفی نزنید، کاری که اکثریت کاربران شبکه اجتماعی مراعات نمی کنند، انجنیر ساختمانی در سیاست، و داکترمعالج در مورد دین فتوا می دهد و خنده دار تر اینکه جناب مولوی صاحب در مورد فواید پیاز و مقابله با دیابت صحبت می کند.
حضور فعال اما مطابق علاقه و مسلک سبب مشخص و معرفی شدن شخصیت واقعی شما برای کاربران شبکه های اجتماعی خواهد شد و خواننده گان شما، به عنوان داکتر، انجنیر و یا عالم دین شما را دنبال و یا به اصطلاح (follow) خواهند کرد.
وضع اجتماعی سیاسی کشور، کشمکش های قومی و سمتی، فکری و زبانی، گرایش های حزبی و سیاسی، چیزی نیست که بتوان از کنار آن به آرامی گذشت و در شبکه های اجتماعی موقف نگرفت حتی برای بعضی ها فلسفه حضور در شبکه های اجتماعی همین است، اما در چنین موارد بهتر است، سمت و سوی مان مشخص و واضح باشد، پریدن از شاخ به شاخی، تائید این و رد آن و چندی بعد ردی این و تائید آن، مفهوم و تعریف مشخص از ما ارایه نخواهد کرد، به عبارت دیگر مشخص کنید که کدام طرف هستید و مطابق آن فعالیت های آنلاین تان را تنظیم نمائید.
نکتهٔ دیگری که در مورد ایجاد جایگاه در شبکه های اجتماعی حایز اهمیت است، اینکه پیام و یا پُست شما چه ویژگی نسبت به دیگران دارد، و چرا شما را دنبال کنند؟
تکتیک های زیادی وجود دارند که می شود پیام خود را از دیگران متمایز ساخت، استفاده از امکانات چند رسانه‌ی (multimedia) کوتاه نویسی، تعیین و تداوم سبک خاص نویسندگی، طنزگونه نوشتن، تحقیقی بودن و.... می تواند شما را از دیگران متمایز سازد و بر خوانندگان تان بیافزاید.
با این حال با ایجاد و یافتن جایگاه در میان کاربران شبکه ها مؤثریت حضور شما بیشتر می شود.

خوانندگان تان را بشناسید:

داشتن تصویر دقیق از خوانندگان سبب می شود که در نشر مطالب خاطر آن ها را داشته باشید و یا حد اقل به زبان آن ها صحبت کنید، مبرهن است که شبکه های اجتماعی یک طرفه نیست و خوانندگان شما می توانند عکس العمل در مقابل شما داشته باشد.
با این حال منظور از خوانندگان دو طبقه است، نخست آن هاییکه شما را دنبال می کنند و علاقه مند اند تا مطالب شما را بخوانند، ثانیاً کسانی اند که قصد دارید پیام تان به آن ها برسند.
در مورد اول حفظ خوانندگان دایمی باید هدف باشد، اما در مورد کسانیکه می خواهید پیام تان به آن ها برسد باید دقت داشته باشید، به عبارت خلاصه می توان گفت در پذیرفتن و فرستادن پیام دوستی در شبکه های اجتماعی دقت لازم را بخرج دهیم.

شما یک ژورنالست هستید!

اگر کاملاً نه، اما تقریباً بلی همینکه روزانه قضیه را گزارش میدهید، تحلیل را پخش می کنید، و در مورد واقعه‌ی حرف می زنید، کاری یک ژورنالست را انجام می دهید، بنابر این نکاتی را باید به دقت مراعات کنید:

- در نوشته تان حقیقت کتمان نشده باشد
- نقد یک نظریه با ابراز حقایق و جوانب مثبت و منفی آن برای خوانندگان قناعت بخش تر می باشد
- همیشه طرف مردم را بگیرید.
- صدای ناتوان ها و ضعیفان را بلند تر کنید.
- به خوانند گان تان منبع و یا منابع مطلب تان را بگویید .
- در نوشته تان منصفانه عمل کنید.
- از تضاد منافع اجتناب کنید (نباید منافع تان سبب تحریف و کتمان حقایق شود)
- تلاش کنید که به مردم گزند نرسانید، حیثیت، و شخصیت مردم، هویت و امنیت مردم را مورد هجوم قرار ندهید.
- مطیمن شوید که معلوماتی را که قرار است نشر کنید دقیق و صحیح باشد، اما اگر اشتباه بود زود پوزش بطلبید.
- از احساسات و عکس العمل مردم اطلاع داشته باشید و آنرا جدی در نظر بگیرید.
- در هنگام قضاوت موضوع را بشکل کامل بدانید که چیست یعنی آگاهی تان را تکمیل کنید.

مورنۍ ژبه

د ګهيځ ټولنې غړی- محمد اصف احمدزی

د فبرورۍ ۲۱مه (د کب دوهمه نېټه) د مورنۍ ژبې نړيواله ورځ ده، دا ورځ په ۱۹۹۹زېږديز کال د ملګرو ملتونو د علمي- فرهنګي سازمان (يونسکو) له لوري د مورنۍ ژبې نړيواله ورځ ونومول شوه. په همدې اساس، له همدغه کال راپدېخوا د ژبو د ساتلو او پاللو او په مورنۍ ژبه د زده کړو د آسانتيا د برابرولو او د ټولې نړۍ د سيمه ييزو بېلابېلو ژبو د ملاتړ په موخه، هر کال دغه ورځ نمانځل کېږي.

په مورنۍ ژبه زده کړه، د هر ماشوم بشري حق دی او د ماشومانو په وده کې خورا رغند او مهم رول لوبوي. د پوهانو په اند، ژبه سربېره پر دې چې د هويت، پېژندنې، افهام او تفهيم وسيله ده، د علم او پوهې د ترلاسه کولو وسيله هم ده، له دې لارې خلک د انکشاف او پرمختګ په لور هڅول کېږي، فکر او تفکر رامنځ ته کېږي او بالآخره په همدې وسيله انساني فکرونه يو بل ته لېږدول کېږي؛ نو کله چې يو ماشوم علم حاصلوي، هغه بايد په خپل مغز او فکر کې ځای پرځای کړي، بيا د مفهوم او جاج اخيستو لپاره اړ دی چې هغه تحليل کړي؛ نو که هغه ته په مورنۍ ژبه زده کړه نه وي برابره شوې، نوموړی دغه مفهوم او تحليل په آسانۍ نه شي ترسره کولی، همدا ده چې په راتلونکي کې يې د سالمې ودې او انکشاف مخه نيول کېږي؛ خو بالعکس، که په مورنۍ ژبه د زده کړې لارې چارې ورته برابرې شوې وي، هغه له زده کړې په آسانۍ مفهوم اخيستلی او بيا يې په اغېزناکه توګه نورو ته لېږدولی شي.

د ژبې يو بل نقش دادی چې له دې لارې عواطف، احساسات، هيلې او غوښتنې بيانيږي او دغه کار هغه مهال ښه ترسره کېدای شي چې څوک په خپلې مورنۍ ژبې پوره حاکميت او برلاسی ولري.

له بلې خوا، ارواپوهان او د پيداګوژۍ د علم پوهان وايي چې ماشوم لومړی ځل په خپل کور او په ځانګړي ډول له خپلې مور څخه ژبه زده کوي او تر هغه مهال چې ماشوم ښوونځي ته لار پيدا کوي، په زرګونو (کابو شپږ-اووه زره) کلمې په مورنۍ ژبه زده کوي، نو که په ښوونځي کې له يوې بلې نا آشنا ژبې سره مخامخ شي، دغه د زرګونو کلمو زېرمه يې له يو ډول ګډوډۍ سره مخامخ کېږي او آن دا چې، کله کله يې د له منځه تللو وېره هم وي.

دغه راز پوهان په دې سره سلا دي، که زده کړه په لومړيو کلونو په مورنۍ ژبه پيل شي او له دې وروسته بيا ملي او يا نړيوالې ژبې ور زده شي، نو دا د ماشوم د تفکر، تحليل او د فکر کولو ځواک لوړوي، ځکه هغه کوچنيان چې خپله مورنۍ ژبه يې ښه زده وي، هغه د نورو ژبو د زده کولو ښه وړتيا او استعداد لري او په آسانۍ سره بله ژبه زده کولی شي.

په يوه ټولنه او هېواد کې ماشوم ته په خپله مورنۍ ژبې د زده کړې لارې چارې برابرولو او هرې ژبې ته خپل حق ورکول، د زده کړې ښه کيفيت، ثبات او انکشاف ته لار هم هواروي، د فرهنګي بډاينې او ملي يووالي لپاره اغېزمن ثابتبدای شي او د مثبتې زده کړې د منځ ته راتلو لامل ګرځي. بله دا چې، هغه کسان چې په مورنۍ ژبه يې زده کړه کړې وي، له يوې خوا د خپلو عواطفو، احساساتو او افکارو په څرګندولو کې بريالي وي، له بل لوري هغه ته بيا خپله ټولنه پردۍ نه ښکاري، روحي ضربه نه ويني، عقده ورسره نه پيدا کېږي او نه هم له ښوونځي څخه محرومه کېږي، ځکه له ښوونځيو څخه د ماشوم د مورنۍ ژبې وېستل، په حقيقت کې له ښوونځي نه د ماشوم د وېستلو معنا لري.

دا چې زموږ په هېواد کې هر افغان حق لري د اساسي قانون او د بشري حقونو پر بنسټ ورته په مورنۍ ژبې د زده کړې لارې چارې او نورې هر ډول آسانتياوې برابرې شي، نو په دې اړه بايد جدي او هر اړخيز کار ترسره شي. سره له دې چې د پوهنې وزارت په دې اړه لومړني او څه ناڅه کارونه ترسره کړي، خو بايد دغه کار ته دوام او پراختيا ورکړل شي. د پوهنې د متوازنې ودې لپاره ماشومانو ته په ځايي ژبو په مرکز او ولايتونو کې تدريسي مواد چمتو او د مورنۍ ژبې د زده کړې لپاره هر ډول آسانتيا برابره کړي. دغه راز نور اړوند دولتي مراجع دي هم لاس په کار شي؛ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت بايد د رسنيو له لارې يادې موضوع ته پاملرنه لا ډېره کړي، علمي او څېړنيز ارګانونه دي د هېواد د هرې ژبې په برخه کې څېړنې وکړي او په دې اړه دې علمي- څېړنيز آثار وپنځوي.

نقش رسانه ها در توسعهٔ اقتصادی!

شکر الله اسدی، نمایندهٔ انجمن گهیځ در زون شمال شرق

مقدمه

وابستگی شدید مردم جوامع امروز به رسانه ها در حدی است که به نظر می رسد زندگی بدون رسانه ها دچار اخلال و حتی غیر ممکن می شود. از هنگام رسوخ امواج رسانه های دیداری و شنیداری و به دنبال آن توسعه رسانه های مکتوبی و گرایش آن ها به کارکردهای تخصصی، هر لحظه دایرهٔ آگاهی های ساکنین کره خاکی افزونتر شده و تصور اینکه روزی برسد که بدون اتکا به یکی از انواع رسانه های گروهی و کسب اطلاع و افزایش آگاهی از محیط پیرامون بتوانیم به حیات خود ادامه دهیم کار دشواری باشد. اکنون این کارکرد عمومی رسانه های گروهی توانسته اصلی ترین نقش را در تعاملات اقتصادی که لازمه تداوم زندگی در هر جامعه با هر نگرش و دیدگاه و گرایش دینی و مذهبی است، ایفا کنند. از این رو است که بسیاری از کارشناسان اقتصادی معتقدند که رسانه ها، بخش مهم و انکار ناپذیر اقتصاد امروز هستند.

به این ترتیب در جامعه امروز یک فرد، تنها زمانی می‌تواند بهترین و مطمئن ترین شرایط زندگی را برای خود و خانواده فراهم کند، یا به عبارتی رفتار اقتصادی مناسب در پیش گیرد که دارای آگاهی و اطلاعات کافی برای تصمیم گیری صحیح باشد و این امر محقق نمی شود، مگر با بهره گیری از وسایل ارتباط جمعی، رادیو و تلویزیون، روزنامه‌ها، نشریات،کتب، سایت‌های اطلاعاتی، شبکه های اجتماعی و در یک کلام، قرارگرفتن در جریان سیال و مداوم اطلاعات.

در دهه های اخیر صاحبان سرمایه‌های کلان و فعالان بازار های بزرگ اقتصادی با درک نقش رسانه ها در فروش و درآمد زایی، اقدام به راه اندازی شبکه های تلویزیونی، انتشار مطبوعات، ایجاد سایت و شبکه های اجتماعی کرده اند و بدین ترتیب خود رسانه را به عنوان یک تصدی (شرکت) برای کسب درامد در نظر گرفته اند و با خرید و تولید محتوا، سود خود را به حداکثر می رسانند.

تاریخچه

پیشینهٔ رسانه به بدو ماموریت پیامبران الهی باز می گردد که یکی از مهمترین ابزارها در راستای دعوت به یکتا پرستی و ماموریت الهی پیامبران، نشر هدایت از پیامبران به مردم به صورت گوش به گوش و بالآخره توسط کتب مقدس الهی و یا به عبارتی، برترین رسانه های مکتوب صورت گرفته است.

سه دهه قبل واژه ای انقلاب ارتباطات و اطلاعات شامل فرهنگ ارتباطات و اطلاعات شد. بسیاری مردم از این واژه استفاده می کردند چندان به معنای دقیق این واژه آگاه نبودند، یعنی نمی‌دانستند که در پی طرح و تثبیت انقلاب اطلاعات و ارتباطات چه تغییری در زندگی بشر رخ می دهد. تئوریسین های علوم ارتباطات برای بیان اهمیت آن که پس از انقلاب‌های اقتصادی، صنعتی، سیاسی و فرهنگی مدعی تحولات زیربنایی بود، اعلام کردند که این انقلاب مبانی قدرت را جابه جا می‌کند.

به این معنا که تا قبل از رنسانس در غرب مبنای قدرت، قهر و سلطه بود و هر کس زورش بیشتر، قدرتش نیز بیشتر بود. پس از آن مبنای قدرت زمین شد و ما شاهد بروز فئودالیسم بودیم ولی در پی انقلاب صنعتی اول و دوم در قرون ۱۸ و ۱۹ مبنای قدرت از زمین به ابزار تولید و سرمایه منتقل شد و تا سال های پس از جنگ دوم ابزار تولید و جنگ افزارهای نظامی مبنای قدرت را تشکیل می دادند و جنگ سرد امریکا و شوروی نیز بر سر این دو موضوع بود، اما از اواخر دهه ۷۰ میلادی و با ظهور انترنت اولیه و انقلاب در فناوری اطلاعات و ارتباطات صحنه جهانی تغییراتی بزرگی را شاهد بود و مقوله ای به نام رسانه وارد معادلات قدرت شد.

تعریف رسانه و نقش آن در توسعه اقتصادی:

رسانه عبارت است از یک وسیلهٔ ارتباط جمعی که امروزه دایرهٔ وسعتش بیش از پیش بزرگتر شده است و اکنون علاوه بر مطبوعات، رادیو، تلویزیون و شبکهٔ جهانی انترنت را نیز در بر می‌گیرد. فراوانی جمعیت، تمرکز گروه های وسیع انسانی در شهرهای بزرگ، شرایط خاص تمدن صنعتی و پیچیدگی وضع زندگی اجتماعی، وابستگی‌ها و همبستگی‌های ملی و بین‌المللی، ناامنی و بحران‌ها، تحول نظام‌های سیاسی و اجتماعی، دگرگونی مبانی فرهنگی، ترک سنت های قدیمی و مخصوصا بیداری وجدان اجتماعی همه از جمله عواملی هستند که روز به روز نیاز انسان را به آگاهی از تمام حوادث و وقایع جاری محیط زندگی بیشتر می‌کند، تا جایی که پیشرفت وسایل ارتباط جمعی و توسعهٔ اقتصادی و اجتماعی و تحکیم مبانی دموکراسی و تفاهم بین المللی لازم و ملزوم یکدیگر شده اند. در این جوامع افراد کوشش می کنند همیشه در جریان همه امور و مسایل اجتماعی قرار داشته باشند

تا بتوانند به طور مستقیم یا غیرمستقیم نقش خاص خویش را در زندگی گروهی ایفا کنند. به همین جهت آگاهی اجتماعی از مهم ترین ویژگی های زمان معاصر به شمار میرود و همین آگاهی است که انسان را به زندگی فردی و جمعی علاقه مند میسازد و توجه او را به آزادی ها و مسؤولیت‌های وی جلب می‌کند. به این ترتیب در جامعه امروز یک فرد تنها موقعی میتواند بهترین و مطمئن ترین امکانات و وسایل زندگی را برای زندگی گروهی به دست آورد که دارای معلومات و اطلاعات کافی، خط مشی‌های صحیح و افکار و عقاید سالم باشد و این امر با استفاده از وسایل ارتباط جمعی، روزنامه‌ها، نشریات، کتب، سایت‌های اطلاعاتی و در یک کلام اطلاعات قابل دسترسی است.
امروزه توجه صاحبان سرمایه نیز به سمت رسانه‌ها جلب شده است، چرا که از این طریق با تسلط بر اذهان عامه می‌توانند بازار مناسب برای محصولات خود ایجاد کنند. در گذشته هر آنچه را که تولید کنندگان عرضه می‌نمودند فروخته می شد، اما با افزایش تولیدکنندگان بازار به سمت رقابتی شدن سیر نمود و در این حالت رسانه ها به عنوان ابزار برای معرفی محصولات تولید شده به کار گرفته شدند و بدین ترتیب تبلیغات به عنوان یک حرفه و یک پل ارتباطی بین رسانه و اقتصاد معرفی شد.
در به کارگیری تفکر نظری رسانه در اقتصاد، نقش رسانه در تعاملات بین بازیگران اقتصادی مختلف مورد تجزیه و تحلیل قرار می گیرد. رسانه ها خودشان به عنوان بستر برخورد تولیدات و تقاضا در بازارهای غیر شخصی عمل می کنند. از حروف الفبای خط میخی بابلی‌ها تا بیت‌های انترنت، رسانه‌ها قابلیت بستن قرارداد و تجارت غیر شخصی را داشته اند. از این رو رسانه همیشه بخش مهم، اما بدیهی اقتصادی مدرن بوده است.

رسانه‌های همگانی و ایجاد انگیزه برای توسعه اقتصادی:

برای ایجاد انگیزه در پیشرفت، قبل از هر امر دیگری مردم باید توسعه و پیشرفت را بشناسند و اطلاعات و اندیشه های جدید را به دست آورند. آن‌ها باید لزوم تغییرات را درک کنند و در مورد راه های مختلف ایجاد تغییر، اطلاعات لازم را داشته باشند. اهمیت رسانه‌های همگانی در این تحول و دگرگونی به حدی است که این وسایل، پشتوانه و زیربنای تغییرات اجتماعی در توسعه ملی به شمار می‌روند. رسانه های همگانی با ایفای نقش آموزشی و خبری خود، در ایجاد تحول و مهارت‌ها، ارزش‌ها و انگیزه ها مؤثرند. رسانه‌های همگانی می‌توانند با استفاده از شیوه های مناسب، نیازهای عمومی را با امکانات ملی در کشور هماهنگ کنند. در بخش مصرف، گاهی گفته می‌شود مصرف به توسعه لطمه می زند و تنها راه رسیدن به پیشرفت، صرفه جویی است. البته اگر صرفه جویی به معنی انباشت سرمایه و تخصیص منابع به سرمایه گذاری های اساسی باشد کاملا صحیح است، ولی اگر مفهوم صرفه جویی صرف نظر کردن از تولید و مصرف کالای مورد نیاز باشد، قطعاً صحیح نیست و باید گفت؛ اقتصاد، علم استفاده درست و صحیح است نه علم صرفه جویی، رسالت رسانه همگانی در درک این امر مهم است. همان گونه که اشاعه مصرف گرایی به سبک غرب، شاید به نوعی خیانت به اقتصاد ملی محسوب می‌شود، رواج دادن شیوه درست تولید و توزیع کالای اساسی و ترغیب مردم به استفاده از آن ها، بزرگ ترین خدمت به توسعه است.
این هم خلاصه نظریات جان کین یکی از بزرگترین نظریه پردازان بخش رسانه ای:
۱- رسانه مؤظف به ایجاد مخاطب برای شرکت های تبلیغاتی اند.
۲- رسانه ها می باید برنامه هایی پخش کنند که با علایق اکثریت جمعیت مخاطب همخوانی داشته باشد.
۳- برنامه سازان رسانه ای، متولیان اجتماع نیستند، بلکه آن ها مشارکت کنندگان در بازار تجاری کالاها و خدمات هستند.
٤- سیاست های رسانه یی می باید به گونه ای اتخاذ شود که بیشترین استفاده از تبلیغات در رسانه ها به عمل آید.
٥- نظام رسانه ای می باید به سمت کالایی شدن (تولید و ارائه کالاهای تجاری برای مخاطبان) سوق داده شود.
٦- گرایش به انباشت سرمایه باید به یکی از مهم ترین سیاست های مدیریت رسانه ها بدل شود.
۷- آن های که هزینه های برنامه های رسانه یی را می پذیرند باید محتوای برنامه های آن را نیز تعیین کنند.
۸- مخاطبان باید به مثابهٔ مصرف کنندگان تلقی شوند که تحت تأثیر بازارند، نه شهروندانی که در تصمیم گیری ها و استراتیژی های کلی رسانه حق مشارکت دارند.
۹- عمده ترین کارکرد رسانه ها، تحصیل سود از طریق تولید و انتشار گفتمان تجاری است.

منابع استفاده شده در این مقاله:

۱- نشریه- مرکز پژوهش هاي اسلامي صدا و سيما، دوره جدید، شماره هفتم ،سال ۱۳۹۱.
۲- بی باک آبادی ، غزال - نامه پژوهش سال ۱۳۸۹ شماره ۱۱.
۳- کوثری، مسعود - اینترنت و آسیب های اجتماعی، تهران، نشر سلمان. سال ۱۳۹۰.
۴- مولانا، حمید- گذر از نوگرایی ارتباطات و دگرگونی جامعه- مترجم: یونس شکرخواه- ناشر: مرکز مطالعات و تحقیقات رسانه‌ها - سال ۱۳۸۷.
٥- لرنر، دانیل - گذر جامعه سنتی، نوسازی خاورمیانه- مترجم: دکتر غلام رضا خواجه سروی / مسعود اویسی - ناشر پژوهشکده مطالعات راهبردی -سال ۱۳۸۳.
٦- کین، جان - رسانه ها و دموکراسی - مترجم نازنین شاه رکنی - انتشارات طرح نو.

ګهيځ په ۱۳۹۷ لمريز کال کې

اداره

ګهيځ د ليکوالو او ژورناليستانو ټولنه يوه مسلکي، ټولنيزه، فرهنګي او رسنيزه ټولنه ده، چې د رسنيو کارکوونکي، ليکوالان او رسنيز فعالان يې غړي دي. دغه ټولنه د ديني او ملي ګټو په چوکاټ کې د رسنيز کار له لارې غواړي چې د بيان آزادۍ ته پراختيا ورکړي، اطلاعاتو ته د لاس رسي، د ژورناليستانو او ليکوالو ترمنځ د اړيکو په قوي کولو او د هېواد په معنوي بيارغونه او فرهنګي وده کې برخه واخلي.
ګهيځ د ليکوالو او ژورناليستانو ټولنې د ۱۳۹۳ لمريز کال د مرغومي په اوومه نېټه له عدليې وزارت څخه د فعاليت جواز اخيستی دی او اوس مهال د خپلې ټولنې په چوپړ کې په کار بوخته ده. اوس مهال يې د غړيو شمېر د هېواد په بېلابېلو ولايتونو لکه: کابل، ننګرهار، کنړ، لغمان، کندز او هرات کې سلګونو تنو ته رسېږي.
د تېرو کلونو پر دوام يې د ۱۳۹۷ لمريز کال په ترڅ کې لاندې فعاليتونه ترسره کړي دي چې په لاندې راپور کې درته وړاندې کېږي:
۱ اکاډميک بحثونه:
* پښتون ژغورنې د خوځښت نن او راتلونکی تر سرليک لاندې اکاډميک بحث ترسره شو.
* د (روان ټاکنيز بهير او د رسنيو ونډه) تر سرليک لاندې هم اکاډميک بحث ترسره شو.
۲- په واټسپ او ټلګرام کې د ګهيځ په نامه خبري ګروپونه جوړ شول چې د هېواد له سراسر څخه تازه خبرونه او راپورونه پکې خپرېږي او ورځ تر بلې يې غړي د زياتېدو په حال کې دي.
۳- د ګهيځ د ليکوالو او ژورنالستانو ټولنې بېلابېلو هيئتونو د رسنيزو ټولنو او مطرح شخصيتونو سره ناستې ترسره کړې (د کابل پرس کلب له مشر عزيز احمد تسل او غړيو سره، د لندن د ژورناليستانو د ټولنې د يو افغان غړي صفي الله تهذيب سره، د علومو اکاډمۍ د علمي غړي څېړنپوه دکتور سيد محي الدين هاشمي، څېړنوال سيد نظيم سيدي، فاضل شريفي او محمد نبي صلاحي سره، د ليکوال او ژورناليست محمد آصف وردګ سره چې د خبريالانو څخه د ملاتړ د صندوق مشر دی. همدارنګه په ارګ کې د خبريالانو څخه د ملاتړ د صندوق په بيا پرانستې غونډه کې ګډون وشو.)
٤- ګهيځ د ليکوالو او ژورناليستانو ټولنې د (۱۳۹۷/۲/٦) د ژورناليستانو او رسنيزو ټولنو په فدراسيون کې غړيتوب ترلاسه او په غونډو کې يې ګډون کوي.
۵- د ليکوالۍ د بنسټونو تر سرليک لاندې يو مياشتنی روزنيز پروګرام جوړ شو.



٦- پـه بېلابېلـو وختونـو او د پېښـو مطابـق د خبريالانـو او ليکوالانـو د ځورونـې، وژنـې، مړينـې پـه هکلـه د غمـرازۍ او ملاتـړ اعلاميـې خپـرول.
٧- د ګهيـځ د اجرايـي کميسـيون يو پـلاوي ننګرهار تـه سـفر وکـړ او پـه دې ولايـت کـې يـې د پخـواني اسـتازي جاويـد ذاکـري پـر ځـای (محفـوظ الحـق کاکـړ) د دې ولايـت رسـنيزو مسـؤولينو او خبريالانـو تـه د خپـل نـوي اسـتازي پـه توګـه ور وپېژنـدلـو.



٨- لينـدۍ/ قـوس پـه ١٥ مـه د ګهيـځ ويـب سـايټ (gaheez.af) لـه ډيزايـن وروسـته پـه نړيـوال جـال کـې پـر فعاليـت پيـل وکـړ.



٩- ١٣٩٧/٩/٧ د ګهيـځ د اجرايـي کميسـيون يـو پـلاوي چـې د اړيکـو مسـؤول محـترم احمدضيـاء رحيمـزي او پـه هـرات کـې د ګهيـځ اسـتازی اسـتاد عبدالبصير دانشـيار بختيـار پکـې شـامل ؤ د هـرات پوهنتـون د ژورناليـزم پوهنځـي لـه رئيـس سره وکتل او پـه دې ولايـت کـې يـې د ګهيـځ د فعاليتونـو پـه هکلـه معلومـات ورکـړل.



١٠- ١٣٩٧/٩/٢١ د ګهيـځ د اجرايـي کميسـيون يـو پـلاوي کـندز ولايـت تـه د سـفر پـه تـرڅ کـې د منهاج الديـن ګهيـځ د کورنـۍ لـه ځينـو غړيـو سره وکتـل او همدارنګـه يـې پـه دې ولايـت کـې اسـتاد شـکر اللـه اسـدي د شـمال ختيـځ زون د مسـؤول پـه توګـه وټاکلـو.
١١- ګهيـځ د ليکوالـو او ژورناليسـتانو ټولنـې خپلـه څلورمـه کليـزه د غړيـو، پوهنتـون اسـتاذانو، د علومـو اکاډمـۍ د غړيـو، ژورناليسـتانو او د رسـنيو د فدراسـيون د اسـتازو پـه ګـډون سره د ١٣٩٧ کال د مرغومـي پـر ١٠ مـه پـه کابـل کـې پـه شـانداره مراسـمو ونمانځلـه.

١٢- ګهيـځ ټولنـې د ورکشـاپونو پـر دوام د جـدي مياشـت پـه وروسـتيو کـې د نجونـو لپـاره ځانګـړې ورکشـاپ (ليکوالي او راپـور ليکنـې/ نويسـندګی و ګـزارش نويسـی) تـر سرليـک لانـدې جـوړ کـړ چـې پکـې پـر ليکوالـۍ او راپـور ليکنـه بانـدې ګډونوالـو تـه معلومـات ورکـړل شـول.

د گهیځ له البوم څخه















مهالنی

گهيځ